نه

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

پښتو مثلونه

PROPERTY OF
ARIC
Established 1966

مهتمم: محمد دین ژواک

الازهر خپرندویه مؤسسه

ketabton.com - The Digital Library

د کتاب پیژنده

پښتو متلونه

PASHTO PROVERBS

مهتمم: محمد دین ژوال

چاپ شمیر: زر توکه

چاپنیته: مني۱۳۸۲

کمپوزر: سید سلیمان هاشمي

خپرونکی: الازهر خپرندویه مؤسسه

پته: قصه خواني پوست بکس ٤٦٣ پیښور

تیلفون: 091-2564414

alazharco@homtilal.com

د چاپ ټول حقوق خوندي دي!

ketabton.com - The Digital Library



kenbton.com - The Digital Library

Pashto Proverbs

الازهر خپرندويه مؤسسه

پته: ډهکي نعلبندي، قصه خواني، پيښور – پاکستان

E-mail: alazharco@hotmail.com

Tele: +92-91-2564414

ketabton.com - The Digital Library

PROPERTY OF ACKU 11326

پښتو متلونه

پښتو متلونه د پښتو د ښفاهي ادب يو غوره برخه ګڼل کيږي.

دا متلونه له ډيرو پخوا څخه موجود او زمور د نيکونو غورد ، قيمتی ، تللی او پخې وينا وې دی ، چې د نکلونو په شان خوله په خوله تر دې وخته را رسيدلې دی.

د پښتو متلونه د ويلو تاريخ هم دلته ډيو په شان ، معلوم نه دی او نه يې ويونکی معلوم دی.

بلکې په هر د زمانه کې ويل کيږی او هر څوک يې وايی.

متلونه د ټولو پښتنو د خولې مرغلرې دی ، چې خورې وړې د خلکو په ذهنو کې پرتې دی. د متلونو عبارت خوندور ، لنډ او پو لوی مقصد په کې ځای شوی دی. پښتو متلونه که څه هم زيات په نثر کې شاملپږی مګر ډير يې وزن او قافيه هم لری.

له متلونو څخه د هر قوم د پوهې ، تجربې او فکری لورتيا اندازه معلومپږی ، ولې چې متلونه هغه پخې خبرې دی ، چې له ډيرو تجربو څخه وروسته په لاس راځی او د ژوندانه لارښوونکی ګڼل کيږی.

متلونه په وينا کې خوږوالې او قوت پيدا کوی او عبارت پرې ښايسته کيږی. دا وجه د د چې شاعران او ليکوالان يې په خپلو وياو کې راوړی او دا د بديع په فن کې يو صنعت ګڼل شوی دی.

د متلونو پیژندنه دوې خواوې لري: یوه دا چې د ویلو اصلي ځای او کیفیت یې څرګنده کړي، ته معلومه شي او بله دا چې داستعمال ځای یې وټاکي، یعنې د متل معنې یې حقیقي او دوهمه یې کتابي او مجازي ده. مثلاً: د دې متل (مات لاس غاړې ته لویږي) حقیقي معنې هم موجودې دي، ولې چې د چا لاس خوږ او مات شي، نو ربنتیا یې غاړې ته اچوي او مجازاً په داسې ځای کې ویل کیږي، چې یو عاجز او بې وزلې سړي دخپل ځان غم، په کوم مالدار یا یو مشر باندې اچول غواړي.

پښتانه متلونو ته ډیر اهمیت ورکوي. هر متل ورته دکانې کرښه ښکاري او هغه یو پوخ او غټ دلیل بولي. پښتو متلونه د پښتنو داجتماعي ژوندون پوره نمایندګي کوي.

د پښتو متلونه ډیر او په زیات اندازه دي او لکه د لنډیو په هره خوا کې په بیل بیل ډول د خلکو په سینو کې پراته دي.

د پښتو متلونه ډیر پخوانی او لرغوني معلومیږي، ځکه چې د متل جوړیده او شهرت ډیر زمانه غواړي او ډیر زر د متل حیثیت نه شي موندلای.

دغه شان ښایي چې د متلونو په عبارتونو کې هم ډیر توپیر نه وي راغلی، ځکه چې د متلونو عبارت او لفظ دیو روایتي متن په توګه په خپل اصلي رنګ ساتل کیږي او دزمانو بدلونه په کې زیات تغییر نه پیدا کوي.

د پښتو هر متل لکه د لنډۍ یو ځانله خپلواکی مضمون یا په بله ژبه د یوې پیښې او واقعې لنډیز دی. د پښتو یو څو متلونه دا دي:

چې بد ګرزی، بد به پرزی
له پروت زمری نه، ګرځنده ګیدړ نبه دی
ژرنده کړه دپلار ده، هم په وار ده
که غرلوی دی، په سر یې لار ده
دلټ غویی آخر خاوند قصاب دی
د بهر له ګټندوی نه دکور و ټندوی نبه دی

دپښتو متلونه تر اوسه پورې ټول نه دی راغونډ شوی او لکه دپښتو ادب دنورو مرغلرو په شان، دپښتونخوا په غرونو او درو کې لا هماغسې لکه لالونه پټ پراته دی.

پښتو ټولنې له پخوا څخه دپښتو متلونو د راغونډولو په کار لاس پورې کړی دی. د پښتو متلونو لومړی مجموعه په (۱۳۱۸) کال کې خپره شوه. په دوهم ځل یوه بله مجموعه په (۱۳۲۷) کال کې دچاپ میدان ته راووتله چې بناغلی محمد ګل نوری ټوله کړې وه، مګر په دغه مجموعه کې له ادبی چوکاټ نه وتلی نا سپیځلی متلونه هم راغلی وو او ځینې لفظی کمزوری په کې هم ډیرې وې، نو د پښتو ټولنې د ادبیاتو څانګې ددغو متلونو پورې سمون او سپیځلتیا ته ملا وتړله، نوی متلونو یې هم راټول کړل او په نوی شکل یې دچاپ دپاره تیار کړل. ددې مجموعې د متلونو شمیر (۲۷۹) ته رسیږی.

ددې متلونو په ترتیب او چاپولو بناغلی حفیظ الله خان او بناغلی ژواک پوره زیار ویستلی دی، چې زه ددواړو زیار او زحمت دقدر په سترګه ګورم او دځان او ددوی دپاره له خدای څخه دپښتو ژبې دزیات خدمت توفیق غواړم.

«رشتین»

ketabton.com - The Digital Library

(الف)

*ابا کور نشته، له ادې ډارر نشته.

ابا گورد، خورجین یې گورد.

ابا اوبو یووړ، ویل یې ابا څه کوې، غاړې غرونه یې یووړد.

ابی زرد شود، له شوقه ونه لویده.

*اتن وهه شیر داده، نن بیا دچرگ شیر واده. (۱)

اتنه وزان شې، چې امرالدین دې ناري کوی. (۲)

* اختر پټ میړه نه دی.

اختر تیر شو، متایی یې هیره نه شوه.

اختر د یودسړی نه دی.

آخر عمر د خواری دی.

اخنبې چې روپی شیندی، د کلی ټولې پیغلې به یې خدمت کوی.

اخنبې چې جیب ترلې وې، په خوابنې او خوبنینې یې قدر خورلې وی.

اخور یې جوړ کړ، ویل یې اس به خدای راکړی.

* ادب له بې ادبه زده کیږی.

---

(۱)- شیروا یوه لهجه ده، چې د بنوروا په عوض ویل کیږی.

(۲)- دا مثل د کندهار په خواکې شهرت لری.

ادب له زخمه اخیستل کیږی.

آدم خان ډې په خیال ګوروان درغلی دی.

ادې چې زوروړ دد، دبابا د زوړ دد.

ادې مه یې پوکه، چې سړیږی.

* ارزان بې علته نه وی، ګران بې حکمته.

ارمان به کړې هلکه، بیا به نه مومې ادکه.

ارمان چې وزوستی عقل لومړی وای.

ارداړه، یوم پرغاړه. (۱)

* ارستګې نه لری.

ارډه په ارډ خلاصیږی.

* ازاری ته په ازارولو ګناه نشته.

ازمویلی څوک نه ازمویی.

ازمایلی بیا مه ازمایه.

ازموینښت اول په کال او تلین ؤ ، اوس دم په دم دی.

* اسان یې نالول، چونګښو هم پښې پورته کړې.

اسمان لړې، مځکه سخته.

اسمان چې ګړزیږی، هومړ د نه اوریږی.

اسمان به ولاړ وی، لاټ به مرداروی.

اسمان چې وریځې بنوروی، باران به وکړی.

---

(۱) - دا متل د کندهار په سیمه کې ویل کیږی . ارډاړه دلته د زراعت کروندې په معنې دی.

کونډه چې سترګې تورې وي، میړه به وکړي.

اس مې درکړ، خو پرې سپریږي به نه.

اس خپلې وربشې خپله زیاتوی.

اس پردی، سپور پرې میړی.

اس دې له بله، لنبته دې له ځنګله، چې نن یې نه زغلوی، نو لا کله.

اس لرد، په لاس لرد.

اس شښتنی، خر رایی، غاتری نوری بلا وایی. (۱)

اس که تکنی دی، میدان لنډ دی.

اس چې خدای خواروی، نو یې یابه کړی.

اس یې هغو ته ورکړ، چې دتانګ دترلو یې نه وُ.

اس یې په خرد بار کړ، خر یې پرې سردار کړ.

اس چې دخرو سره تړی، خر یې خړی زده کوی.

اسان یې په سو وګټی، میړونه یې به خولو ګټی.

اسیاوان چې تسپې اړوی، ژرنده ګړی خطا کوی.

اسیل په ګډله کې، کم اصل په ګزبره کی. (۲)

اسیل چې خوارشی، ته خاوري کیږې.

اسیل کوتیور، کم اسل خپرور.

اسیل نه ورکیږی.

اسیل ته اشارت، کم اسل نه کوتک.

---

(۱) - دا متل د کندهار دسیمې دی.

(۲) - دا متل د کندهار دسیمې دی.

اسیل ختانه لری، کم اسل وفا نه لری.

اسیله ځان دې کچه کړ، چې پر تو ګ دې الچه کړ.

اشه بنه دد که ګوله، مه یې یود وینې مه بله.

*اغزی له اولې ورځې تیر دوی.

اغونده ګډله، خو، له پورد څخه زغله.

*اکویو په بل پورې پکو.

*الا بلا به ته کړې، لور او زوی به پرې مارد کړې، دمولا جواب به څه کړې.

الف که څه نه لری، بې هم لنبکر نه لری.

الحمد هغه الحمد دد خو، خوله دملا عثمان غواړی.(۱)

الو په شلتالو نه پیوندیږی.

* امانت مځکه هم نه خیانتوی.

امانت اوښ په نواله نه وی اموخته.

اموخته خور، بلا خور.

اموخته خور، بنه دی که میراث خور؟ ویل یې: اموخته خور.

امیر یې ورکوی، شیخ میر یې نه ورکوی.

امیر چې ظلم کاروی، اور بل په ټول دیار وی.

* انا سپرد، کټوډ یې باندې.

انا مړ د شود، تبه یې وشلیده.

---

(۱)- دا متل د کندهار خواته دا ډول ویل کیږی: الم نشرح هغه الم نشرح دد خو، خوله دملا عثمان غواړ.

انبار دې وی، خروار دې وی.

انسان، تابع د احسان دی.

انسان تر کانې کلک، تر ګُل نازک.

انسان بې وزرد مرغه دی.

* اوباز یم، خو بې ګودرد نه ګډیږم.

اوبو اخستی، ځګ ته لاس اچوی.

اوبه په اوبو، شیدې په شیدو.

اوبه په ډانګ نه بیلیږی.

اوبه په سارد ځی، نه په جګوالې.

اوبه پورته وهه، کښته بې لاردد.

اوبه چې ترسر تیرې شی، څه یود نیزه، څه دوې نیزې.

اوبه په کمزورې ورځ ماتیږی.

اوبه د سر له خواخړیږی.

اوبه که بړې دی، تر پله لرې دی.

اور او اوبه نه سرد یوځای کیږی.

اوزبشې څه په مځکه کې، څه په جوال کې.

اوربشې که د روپی سل منه شی، د خرد په کې یود لپه دد.

اور ته خپل او پردی یو دی.

اور له خپلې لمنې لګیږی.

اوږد دې په اوږد منت دې پرځه.

اوږد په موتی، غوری په ګوته.

اوږد خیشته پیشته کړی، منت پر تنارد کړی.

اوږد دمیچنی، زوی د خچنی.

اوږد که تمام دی، پیمانه خویې پر ځای دد.

اوږد یو موتی نه لری، تنور یې پر بام جوړ کړی دی.

اوږد یې یو موتی نشته، شل تر تنورو نه دی.

اوسپنه په اوسپنه ماتیږی.

اوسپنه چې څومره تکیږی، هغومره پخیږی.

اوس دې اوښی کړې، چې د ماشو پرورد دې پرې وخوړ. (۱)

* اوښان نه ژاړی، بارو نه ژاړی.

اوښ په خپلو متیازو کې گودیږی.

اوښ په سر باری نه درنیږی.

اوښ په غلبیل نه درنیږی.

اوښ تر پولې لاندې نه شی پتیدلای.

اوښ په بډه نه وهل کیږی.

اوښ له بار دولوید، له بېړه دونه لوید.

اوښ چې یې په نته کړ، نو یې اوږ ته کړ.

اوښ دې اوسار کړ، نو دې په لار کړ.

اوښ ته یې ویل: الغبندی وکه، ده ویل: په کومو لاسو.

اوښ ته یې ویل: لور بنه دی که ځور؟ ده ویل: ددرو واړو دې بیخ ووځی.

---

(۱)-د ماشو پرورته په ننگرهار کې کتی وایی.

اوښ ته يې ويل: لوبې وکه، دد جړونګان له بيخه وکښل.

اوښ ته يې ويل غاړه دې کږه دد، دد ويل کم ځای مې سم دی.

اوښ چې ولاړ، مهار يې زدځه کوم.

اوښ که غټ دی هم دشيدو تمه تري مه کړه.

اوښ که هر څو نه لوی دی، الوتې نه شی.

ښه! هر څه دې بې هوښه.

اوګرده په تلوار نه سړيږی.

اوګرد چې سړيږی، بلا پرې لګيږی.

اوګرد ځنې توی شود، ويل يې په نصيب مې نه ود.

اوګرد مودرته ساتلی ود، خو پاته نشود.

اول اتام، پسې کلام.

اول ځان، پسې جهان.

اول حق د ګاونډی دی.

اول زده کړه، بيا کوزده کړه.

اول سلام، بيا کلام.

اول ميړانه په سيالی ود، اوس سپيتانه په سيالی دد.

اول مې نه خوړې هزا سلاخې (۱) اوس دخوار پلاو محتاج يم.

اول همياني ګورد، بيا نوشی رانيسه.

* ايلچی ته نه بندشته، نه زندان.

ايړا پور غواړی، بيړا نور غواړی.

---

(۱)- هزار سلاخه يو ډول ډوډی دد، چې ويشلی يې هم بولی.

(ب)

* بابا ویل ، ادې به منل.

بابا چې غلا کوله، اول به يې له ملا کوله.

بابا حلالود پوخې (۱) يې مه حلاله.

بابا دې خدای وبخښی، منګر د سهار په لمانځه کې سست ؤ.

بابا که لمونځ نه کاوه، کفر يې هم نه وايه.

بابا که کار کم کاوه، بيا يې محکم وايه.

بابا ګيلې کوی، ادې پيرې کوی.

بابا لرې مې وادده کړه، چې ستا کنډولی وارد ګټورې کړم.

باچهان چې داو کړې پيروی خوری وس يې رسيږی.

باچهی باچهانو لرد بنايی، لويی خدای لرد.

بادچه پاسنی شی، د باران دستی شرنګی شی.

باران په تيرا، وشو، خرد يې د لړد مورې يووړد.

باران وشو چاکو نه پټ شول.

بارونه يې تړل، اوبنانو ژړل.

بار يې په شانو شو، ورای يو لرګی يې بل پر کښيښود.

بازار ته څه ورې، ويل : طالع.

---

(۱)- پوخې دوری معنی لری.

باز چې خپله ځاله پریږدی، ځای یې د پاچا منګول شی.

باز چې هر څومره خوار شی، چونګښې نه خوری.

باغ چې لانبر شی، باغوان یې خوار شی.

باغ د باغوان دی، ژرنده د ژرنده ګړی.

باغ که باغوان لری، چغال (۱) هم خدای لری.

* بتی کوتی چې خوار شی، نری وریجې خوری. (۲)

بخت په تهدد دی، نه په مدد.

بخت چې د زور مل شی، هر کار یې جلبل شی.

بخت چې کوټه شی، باچهان ټکرې خوری.

بخت په کوتی دی یا په کوڅی.

بخښښ په لک، حساب په کک.

* بد بانجن اپت نه لری.

بد بوتی بلا هم نه وهی.

بډ به دې په زړه لرم، سلام به دې په خوله لرم.

بد به یم، نه له ورور سره.

بد په بلا اخته نښه دی.

بد تربور په بده ورځ په کار یږی.

بد زوی، نه زوی.

بد عادت، چې زور ورشی، عقل مرور شی.

---

(۱) - چغال ته سور لنډی هم وایی.

(۲) - دا مثل د ننګرهار د خوا دی بتی کوټ د یو ځای نوم دی.

بد مه راسره کوه، بنه دې نه غواړم.

بد مه کوه، بد به نه وينې.

بده ماينه پرېښوله کيږی، بد کښت نه پرېښوول کيږی.

بده ماينه، تنګه موچنه دد.

بده ماينه کږه لښته دد ، ماته به شی سمه به نه شی.

بده ورځ کله کله وی.

بد یاران په بده ورځ په کار يږی.

بدی پر بدی واوښت، بدی تنډ تر ې لاندې واوښت.

بدی چې نه کړی بدې چارې، بدی به چا واژه پر لارې.

* بډای يې له خو راد گتی، خوار يې له بډايه.

* بربنډ له لارې اوړی، اووړی نه اوړی.

برج دې تر آسمانه، سپی دې له لوږی مری.

برج مې جوړاوه رانه کادانه شوه.

برخې تولې ازلی دی، نه په زور نه په زاری دی.

برخې ويشه، ميړونه گورد.

برمته، د بدی بانه دد.

برد يې وهه کوزه يې لار دد.

بريت ښه بريت دی، خو په خوشې شونډه ولاړ دی.

بر يې شته، برکت يې نشته.

* بزه په خپل ښکر نه درنيږی.

بزه چې پر بام خيژی، ليوه نه هم ښکنځل کوی.

* بلا بیده بنه وی، نه‌وینبه.
بلاد چې په مخ ونه‌وهی، پر څټ نه‌وهله کیږی.
بلا په‌مخ وهله کیږی، نه په‌شا.
بلا له‌هغه پاڅی، چې یې ګرنګ تر پزې څاڅی.
بلا له‌خپلې لمنې پورته کیږی.
بلا وه، برکت یې نه‌و.
بلا وه که بلاګی، ابا یی مړ که په چورکی.
بل ته ګوته نیول کیږی او ځان ته نه.
بلخه بې تمیزه، لالی راغی بې کمیسه.
بللی، خور ولې.
بلمنګی خواړه دی، له پردیو څه مانې دی.
* بنیادم یو نور، جامه یې دود نورد.
بن به‌دې تندی وهی، یوربه‌دې لینګی وهی.
بنده اریان، خدای مهربان.
بنده راشه‌دخدای خپل شه، لکه پر ځان هسې په بل شه.
بنده چې داد کړی، نو بیا یې یاد کړی، اللّه چې داد کی نو بیا بې بنا د کی.
بنده لری ننبلولې، مرګی لاړې ورته نیولې.
بنده وترل بارونه، مولا وکړه خپل کارونه.
بنیادم بې وزره مرغه دی.
بوچ له اخټره خلاس دی.

بوري هم ژاړی ، وراړي هم ژاړی.
* بیاله که تر رود لاندې؛ اوبه ځی پکښې بهاندی.
بې چرګه به هم سبا شی.
بې ډوډۍ اوسې، بې کوره مه اوسې.
بې ډوله مه ګډیږه.
بیړی په نیت چلیږی.
بې زحمته راحت نشته.
بې زاره دې د خیره، خوسپی دې درګرزوه.
بې سته څوک جنت ته نه ځی.
بې ښځې سړی ښه دی، نه په کور کې همیش جنګ.
بې عقل دونه په بل نه کوی، لکه په ځان.
بې عقل جمال خوښوی، عاقل کمال.
بې عقل زوم د خوابنې په باتو ختاوزی.
بې ګودره مه ګډیږه.
بې کاری لنګیږې ، خواری ترې زیږی.
بې کاری دبد بختی زانګوده.
بې کسه بدې نه شی پاللای.
بې ګودره چې ګډیږی، خود به یې سین وړی.
بې ما دې شل نه کړه.
بې مزده کار مې نه زده، چې مزد راکې کار مې ښه زده.
بې میوې ونه څوک په ډبره نه ولی.
بې وخته میلمه یې له خپله بخته خوری.

* * * * *

(پ)

* پاړوگرد مار له‌لاسه‌مری.
پاک‌اوسه، بې‌باک‌اوسه.
* پته‌وم، پته‌به‌ځم.
پر اخوند ښوروا هم‌ډیره‌ده.
پر اوښ سپور، سپیی وخوړ.
پر پچه‌وخوت، کشمیر یې‌ولید.
پر پوست‌سیکه نه‌وهله کیږی.
پر خره یوه لپه‌اوربشۍ‌ډیرې‌دی.
پر خره سپور، خر ځنې‌ورک.
پرخوړه مځکه‌هر وا‌ښه‌شین کیږی.
پردی‌خر، شل منه‌وړی.
پردې‌غم تر‌واورې‌سور دی.
پردی‌خر، په‌شاز‌ورور دی.
پردی‌زوی، نه‌زوی.
پردی‌سپی، په‌ډوډی‌خپل.
پردی‌جنگ، نیم‌اختر دی.
پردی‌کټ، تر‌نیمو شپو وی.
پردی‌غوښه په‌ځان پورې‌نه‌ښلی.

پردی موچنه پر پښه معلومیږی.

پردی مال نه خپلیږی.

پردی مور مه کړی سود منه، چې سل ښه ورسره وکړې، دا به تل وی گیله منه.

پردی دودی تر زر منه تیږې لاندې ده.

پردی ورکړه، نیمه خوا ده.

پردی خواړه یا پوردی یا پیغور.

پردو، تروو ته اوگره مه پخوه.

پرړانده، شپه او ورځ یوه ده.

پرسر مې دې زړوکی وی، تر مخ مې دې زلمی وی.

پربښو تلوار، پر بدو تامل.

پرکورنگ نیم من دانه ډیره ده.

پرلڅه خیټه یې ملا تړلې ده.

پرلوړه وخیژه څاروکړه، څوچې نور کړی هغه چاروکړه.

پرملا یې لمبول دی، په خدای یې بخښل دی.

پرهغه دې خدای میلمه که، چې میلمه یې نه وی لیدلی.

پریوه سړی چې دوه شی، رڼا ورځ پرې توره شپه شی.

* پړمې کړه، مړ مې کړه.

پړ هم وراشه لری. (۱)

* پز پریکړې که شرم درلودای، دچړې نوم به یې نه اخیست.

---

(۱)- وراشه - اخلاق

* پسرلی دی ځان اګاه کړه ، ځان ته ژېړه غوا پیدا کړه.
پس له واده څوک سندرې نه وایی.
* پښتون سل کاله پس وار واخیست ، ویل یې چې اوس مې هم تلوار وکړ.
پښې مړې شو ، چې پاته یې کور شو.
پښه مې دې پاس وی ، که په خره وی ، که په اس وی.
پښې هلته ځی ، چې زړه ځی.
پښې لوڅې بنې دی ، نه تنګې موچنی.
* پک په پمن پورې خاندی.
پک نه په سر تارلری ، نه په چا کارلری.
پکه دادې لا بله سپکه.
پکې سر په خیال کې ، چې میړه یې شاباز خان دی.
* پګړی چې له سره ولویږی ، په اوږو تکیه شی.
* پلار یې کړه ، خو په لار یې کړه.
پلار یې ګټی ، زوی یې څټی.
پلار یې په اته ، زوی یې په شپیته.
پلار ګټلی ، زوی ته هیڅ دی.
* پنډ یې مه ګوره ، ایمان یې ګوره.
پنځه ګوتې سره برابرې نه دی.
پنځه ګوتې په خوله مه منډه.
پنځه چرګانې په یو کور کې بنې دی ، نه یو نسواری.

* پور په غاړه، میړه مرداره.

پورچې تر سل تیر شو، وچه یې مه خوره.

پورچې ډیر کوی، لور لری.

پورچې ځنډنی شی، خوردنی شی (خندنې شی).

پورچې ځنډنی شی، جنګنی شی.

پورِ په نه دولت حساب دی.

پور په ورکړه خلاسیږی.

پور ته ګورم پاڼ دی، کښته ګورم پرانګ دی.

پور دې پور، منت دې نور.

پور که د پلار شی، خواړه پرې حرام شی.

پوروړې به له نیستمن نه څه یوسی.

پورِ ورکړی، غلیم وژلی.

پوره ورک دې کړه، دوه کوره.

پوستین یو تودوی، بل نه ځایوی.

* په اوړی یې ګتې، په ژمی یې څټې.

په باد راغله، په باد ولاړه.

په یارانه کې تل بنګړې ماتیږی.

په باغ کې الو، په کلی کې بلرغو. (۱)

په باران پسې پټې ګرزوی، په خیرات پسې شکرې.

په بد نیت کلی نه ژنګیږی.

---

(۱) - به لرغو - ایله ګرد

په بد زوی ښه پلار یاد یږی.

په بدلو څوک نه لوییږی.

په بل وطن کې د ښو کښښت کوه تیریږه.

په پتهخوله څه نه کیږی.

په پردی کور سل میلمانه هیڅ دی.

په پردی مال ځوانی نه کیږی.

په پردی مُلک خانی نه کیږی.

په پوښتنه سړی مکې ته ځی.

په تیاره کې خپل سیوري هم نه ښکاریږی.

په تیاره پسې رنبا ده.

په مرګ یې ونیسه، چې په تبه راضی شی.

په تیر پسې تر تاب نشته.

په تش ګومان ، بد بخت وخوړ خپل ایمان.

په تش لاس چې اخلاص کړی، څوک به خلاس کړی.

په ټول بابړ، یو لوړ.

په جنګ کې مړی کیږی.

په جنګ کې یو ګام دسلو کلو لاردده.

په ځنګله کې یې وزیږوه، په بازار کې یې لوی کړه.

په مځکه کې چې کانډیال وی، د بادار یې تش جوال وی.

په څاڅکي څاڅکي ډنډ جوړیږی.

په چا چې دخدای نظر شی، توري خاوري ورته زر شی.

په‌چغل کې اوبه نه دریږی.
په‌غلبیل کې اوبه نه‌راوړل کیږی.
په‌خپلو خپل، په پردیو پردی.
په‌خپله‌خر نه‌لږې، د بل په‌اس پورې خاندې.
په خپله ډوډۍ مور، په کلی نازولی.
په‌خپل کور میږی هم زورور دی.
په‌خواری څوک بد نه‌ایسی، په‌بې کاری بد ایسی.
په‌خوراک یې نه یم، په‌خرپ یې یم.
په‌خوله «لا اِله»، په‌زړه غلا.
په‌خوله‌خوږ، په‌زړه کوږ.
په‌خوله‌دې شین پسرلی، په‌زړه دې کړنګ ژمی.
په‌خوله‌صاف، په‌زړه خلاف.
په‌خولې تنګ، په‌ګیډه لوی.
په‌درنو دروند، په‌سپکو سپک.
په‌دسترخوان هر مچ زمری دی.
په‌دوه بیړیو پښې مه‌ږده.
په‌دنیا باور مه‌کوه، ګاهې لوږ دی، ګاهې څوږ.
په ډیرو کښې یې خوره، په‌لږو کې یې ویشه.
په‌ډیرو لیونی خوښ دی.
په‌رنګ بنایسته، په‌عمل خوار خسته.
په‌رندو کې چپک اغا دی.

په ړندو کې یو ستر ګې پاچا دی.

په زړه هوښیار، په خوله بې کار.

په ژرنده کې دې شپه شه، د زوم کره دې مه شه.

په سپین سر، مزل په سر.

په سپی د خاوند زړه بدیږی.

په ستړې مه شی، دچا څه شی، زړه پرې ښه شی.

په ستر ګو ګورې، په زوی لورې.

په سړو کې توپیر دی، څوک لال دی، څوک کورت کانې.

په سړه سینه چې کیږی، په جنګ کله موندل کیږی.

په سلو وهلی ښه دی، نه په یود پر.

په شرم هغه شرمیږی، چې په شرم پوهیږی.

په شوتلو کې چې وانښه کوی په دې کې یې هم چل دی.

په شلومبو که چاغیدلې، غړ که به چاغه وای.

په شیدو سوی، مستې پوکی.

په شمله دې شوم غلطه، کور ته چې دې راغلی، یود اوښه بله کته.

په ښادی دې ښاد د نه شوم، په غم دې تورد تلبه وسوم.

په ښه پردی خپلیږی.

په ښه ورځ هم بده ورځ نه هیریږی.

په ښه کې ورور، په بده کې پیغور.

په صورت کې نری دی، په کار ګړندی دی.

په ظاهر دوست، په باطن وروست.

ketabton.com - The Digital Library

PROPERTY OF ACKU

په عُمر کشر، په عقل مشر.

په غرمو يې وګټه ، په سيوري يې وخوره.

په غره کې اور بليږی، سورناچی ورته نځيږی.

په غم کې ناري وې، په بنادی کې نغاړې.

په غوجل کې چې يوه ومیژی (۱) رنګ دتهولو بد کړی.

په کام پسې ناکام دی.

په کلی دعوه ده، په ډم ناره.

په کور کې يو تپک دارو نلري، پر ځان يې نوم غمباره اينبې ده.

په کور کې نه کوک نه پياز، اړی د وازګو.

په کولمو کې خواړه کوچ، خبرې د غورمچ . (۲)

په ګازرې نه يم، په خرپ يې يم.

په ګټه نه پوهيږی، خوراک ته يې کړيږی.

په ګرزيدو نه مری، په کنبيناسو مری.

په ګورم کې يې غوا نه درلوده، د ګوروان سر يې مات کړ.

په ګوره ويلو ، خوله نه خوږيږی.

په ګوشته کې هم ځوانان شته.

په ګيډه مې شوتل دی، په ملا مې تورد سپر دی.

په لاس کار، په زړه يار.

په لاس کې يې شړشم زرغونيږی.

---

(۱) - ميژل- متيازې کول.

(۲) - غورمچ- دمچانو شورماشور.

د پښتو ټولنې کتابتون

په لسیځ ې ابنه لتوی.
په دردې وانبه پوردی نه چې کبلې.
په مځکه تصوري نه لری، په اسمان ستورې.
په مرګ يې ونيسه، چې په تبه به راضی شی.
په مړو ايرو کې، ډکی مه وهه.
په مسجد کې لمونځ او کتاب، په چوک کې چلم او رباب.
په ملنګ، څه کلنګ.
په نا ازمويلې اشنا، باور نه شی کيدای.
په نابلده سپی هر سړی غوندې واروی.
په ناسته غومبر نه کيږی.
په نهو مياشتو کې نه پخيږی، په نهو ورځو کې پخيږی.
په وهلو څوک نه سميږی.
په هر شی کې بنه او بد شته.
په هر غار کې ګوتې مه منډه.
په هغه واله کې چې اوبه تللې وی، بيا راځی.
په هندوستان يې ګټی، په چوره ګلی يې بايلی.
په يوه هيلو کی دوه سپی په جنګ اچوی.
په يارانه کې بنګړی ماتيږی.
په يوه باندې چې دوه شی، رنا ورځ پرې توره شپه شی.
په يوه برستن کې دوه لوڅ نه پټيږی.
په يوه تيکی کې دوه توري نه ځايږی.

په یوه څپیره دوه مخه خوږیږی.

په یوه زین کې دوه تنه نه ځاییږی.

په یو ځنګله کې د دوو زمریانو شپې نه سبا کیږی.

په یوه کتاب څوک نه مُلا کیږی.

په یوه ګُل نه پسرلی کیږی.

په یوه ګیډه دوه منته مه اخله.

په یو لاس کې دوې هندوانې نه اخستلې کیږی.

په یوه مړی مور شوې، په ټول کلی سور شوې.

په یوه موزد کې دوې پښې نه ځاییږی.

په یوه دانه، په دوهم ورانه، په دریم ډاګ ډګنی.(۱)

* پیازدې وی، په نیازدې وی.

پیریانو ته، غزنی څه دی.

پیرکه خس وی، دمرید بس وی.

پیر نه الوځی، مرید یې الوځی.

پیشو چې ایسار د شی، ونې ته خیژی.

پیشو چې جنګ کوی، منګولې مخ ته نیسی.

پیغله که هر څو مټه کورده وی، تر کونډې خوندوره وی.

پیل که له تندې مړ شی، یو زنګون اوبه یې لا په نس کې وی.

پیل چې ژوندی وی، یو لک وی، چې مړ شی، دوه لکه شی.

پیل تلی، تلی پر پکې ودریدی.

---

(۱)- ډاګ ډګنی- سپیره میدان.

(ت)

* تا به‌ولی، ما به‌خورکی.

تاته يې لور پخوی، مور ته يې تنور پخوی.

تاته يې ابی پخوی ، ماته يې تبی پخوی.

تا زيان چې هوسی نيسی، دهغو خولې تورې وی.

* تر اوبو دمخه گاولې. (۱)

تر تناره يې موری لويه دده.

تربور ته بې ورورده مه‌شې ، ورورده ته‌بې زويه.

تربور وژنه، خوشرمودې مه.

تربور چې خرشی، پې مه سپريږی.

تربور که‌هر څومره خوارشی، دخرد گمان مه‌وروباندې کوه.

تربور د تررمی موری دی.

تر بې عقل دوست، هوښيار دښمن ښه دی.

تربې عقلې ناوې، هوښيارد کونډه ښه ده.

تر بيکاری ، بيگاری ښه‌ده.

تر پردی زوی، خپله‌لور ښه‌دده.

تر پردی مصری تورې ، لور پر غاړه ښه‌دی.

تر تيارې، برخه‌مه تيرپرده.

---

(۱) - گاوله‌يو خاص ډول د پښو بوښ دی.

تر تشه ولاړه، په خرپ نړيدلې ښه ده.

تر توري وهل، دودۍ ورکول گران کار دی.

تر څوچې ربنتيا راځی، درواغ به کلی وران کړې وی.

تر څوچې پر مړ نه کړې، پوست يې مه خرڅوه.

تر خويښ نس، را پيښ.

تر خوړلی، لا اميد ښه دی.

ترخه خوره، خو ترخه مه وايه.

تردې يې تير، هغه نور يې ستا گنډير.

تر رمې يې، سپی ډير دی.

تر رنگ يې، خوند ښه دی.

تر زرين پوښه پياده، دغوايی سپور ښه دی.

تر سړی گټې، تود تاوان ښه دی.

تر سلو داوو، يوه برمته ښه ده.

تر سلو منو خوړلی، يو چارک کرلې ښه دی.

تر کوره به درسره يم، نه تر گوره.

تر شير يې، په ښوروا خوشاله دی.

تر مزد يې شکرانه ډير ده.

تر پروت زمری گرځند گيدړ ښه دی.

تر مورو پلار خوږی راځه که غوښې خورې.

تر نکل يې وپوهيدې ډير دی.

تر وژلې ورور، پرې اينبې گومل ښه ده.

تر ورخ تیرې اوبه، بیرته نه راګرځی.

ترور، نیمه مور.

تر پښو لاندې ځمکه مه ګوره، لرې واتن ګوره.

تر وهلو یې په ځغلولو ستړې کړې.

تریاکی، دوه په ایکی.

ترویش یې په چور خوشاله دی.

تریوې خُرما، دوې وځکې بنې دی.

تر پلی بنه دی، نه وتلی.

* تږې په خوب اوبه وینی.

* تش لاس، نر بنځه کوی.

تشه لاسه ته مې دښمن یې.

* تلتک د میلمانه، کوسې د کور بانه.

* تلخی د ځنکندن ده، که دې شپه پر بل وطن ده.

تنباکو که ترخه دی، عملی ته خوارې دی.

* توبه (۱) د میړو خالی ده.

توبه باید دستی وی، هسې نه چې په سستی وی.

تو تکی وایی بې ازاره ده، ویل د چمن چنجیان وپوښته.

تور په تورد شپه اخله، چې زیړ وینې شین مه اخله. (۲)

تور د تورې دی، ژیړ دنجونو.

---

(۱)- د کندهار په جنوبی سرحد کې، د یوې علاقې نوم دی.

(۲)- دا متل د بزګرو دی او مراد ځنې غوا یا غویی دی.

تورلیمشی په صابون نه سپینیږی.

توری په اصل غوڅه کوی.

تورده سره بنده ده، خونه د ورور په وینو.

توریالی، ټول ننګیالی.

توریالی له شا نه واهه کیږی.

توری به لالا وهی، مړی به عبدالله وهی.

توري چې باتیږی، جګړه پیښیږی.

توري چرګې سپینې هګۍ اچوی.

توري نور ځوانان وهی، منصب سدو خوری.

توری سکان وهی، کږې پګړوی هندوان وهی.

توزنه هیله د خدای له کرمه وتلې ده.

توکُل نر دی، اندیښنه بنځه.

توکلی ناړې بیرته خولې ته نه راځی.

* ته به یې خپل وبولې، دی به دې زوم وخیژی.

ته تر ما جار، زه تر تا جار.

ته خو حینګ داړی وې، زه دې له خندا مړ کړم.

ته خو د ډاګ وې، زه دې درسره د ډاګ کړم.

ته خو د غور وې، زه دې له کمرو وغورزولم.

ته خو د غونډو وې، زه دې هم د غونډو کړم.

ته مې بزې وهه، زه به دې روژې وهم.

* تیاره بدان خوښوی، رڼا نیکان.

تیږه تیږه ماتوی.

تیر په هیر.

تیږه په خپل ځای درنده وی.

تیږه ځی ځی دخوار په سر لګی.

تیغ په جوهر خوراک کوی.

تیږه چې پرته وی، هوری درنه وی.

(ټ)

* ټال کې ځنګیده، په سر کنډو ودریده.

ټپوسه خپله پوسه، تاته چا ویل چې د بل چرګوری نیسه.

ټک له دواړو لاسو خیژی.

ټینګ عزم غرونه ماتوی.

(((*****)))

(ج)

* جار تر هغه زوی، چې تر هر چا وی نیک خوی.
جار دې شم روپی، چې هم سپر یې هم ګډی.
جامه چې د پورشی، په ځان پورې دې اورشی.
اجمې خو دې بنې دی، چې په ګیډه څنګه یې.
* جاهل ته دوه ځله سلام اچوه.
جغ پر غاړه، او جغ غواړه.
* جفا مرګی بنه ده، نه بې اتفاقی؟
* جنګ په وسله، ننګ په غله.
جنګ په شید یاره بنه دی، نه په خاره.
* جنګ پر خاره بنه دی، نه پر شیدیاره.
جنګ جنګی کوی، ننګ ننګی.
جنګ میړه او سپی ژر بنکاره کوی.
جنګ چې نه کوی، ډبره لویه اخلی.
جنګ سور شو، میری تود شو.
* جوړ صورت چې وی، نیستی نه باندې ورځی.
* جولا شوی نه یې، بیا دې نیچې پتې کړې.

ketabton.com - The Digital Library

(څ)

* څراغ چې په کور کې لګیږی، بیدیا ته څه حاجت دی.
* څنبتن په سپی حُکم وکړ، سپی په لکی.
څنبتن یو مزل کوی، سپی دوه.
* څمڅه په ځان غره شوه، چې په دې او ګړه سړه شوه.
څنګه چې سوال، هغسې یې ځواب.
څنګه چې څرنده، هغسې یې دوړه.
څنګه چې دې کور دی، هسې یې زړ تور دی.
څنګه جومات، هسې، بروزې.
څو چې و نه ویشل شی، خبر به نسی.
څوک ځان غواړی، څوک جهان.
څوک چې لاس درپورې ښندکړی، مه یې غوڅوه.
څوک چې زحمت ونه ګالی، راحت به ونه مومی.
څوک چې دې طلبګار وی، هغه به دې یار وی.
څوک چې بار وړای نه شی، اوږه نه ورته نیسی.
څوک چې له قامه لرې اوسی، باد به یې یوسی.
څوک چې پر مخ ځی، باید تر شا وګوری.
څوک چې خوبونه کوی، میښنه به یې ترکتې زیږو.
څوک چې غوا خرڅوی، له پړی به یې تیریږی.

ketabton.com - The Digital Library

څوک مه‌وهه په‌ گوته، تا به نه‌ولی په‌لوتې.

څوک مه‌وهه په‌نوک، تا به‌نه‌وهی په‌سوک.

څوک نه‌وایی چې زما دغړکې خوند بد دی.

څوک وایی، څه‌وخورم، څوک وایی په‌چا یې وخورم.

څوکوچنی ونه‌ژاړی، مور تی نه‌ورکوی.

څونه‌چې خرگی، هغو نه یې بارگی.

څویې ونه‌شاربی، کوچ نه کوی.

څویې چې شاربی، کوچ کوی

* څه مې په‌هغه پسرلی، چې نه‌مې غوا څری، نه‌خوسی.

څه تووه تیره‌وه، څه‌انا وروسته‌وه.

څه چې په‌دیگ کې‌وی، په‌څمڅی کې راخیژی.

څه چې په کتوی کې‌وی، هغه په څمڅی کې‌وی.

څه خورد، څه پریږده.

څه دکورد، څه‌د پوره.

څه په‌هغه‌چار، چې نه‌دې مور کړی‌وی نه پلار.

څه نه‌وو، چې په‌مادې ونه کړه.

څه راوړه، څه‌به‌یوسې.

څه زه‌بدوم، څه‌دښمنانو لاسونه راپسې وتکول.

څه غرپنا، څه‌ور پنا.

څه ژرنده پخه‌وه، څه غنم لاسه‌دوو.

څه لاس ترمنځ، څه‌غر ترمنځ.

څه مړه، څه مارې.

څه مور لنګه، څه ترور.

څه وهلي، څه پوري وهلی.

*څې کوي، چې نې کوي.

(ځ)

* ځائی پوز غواړی، توری نوري غواړی.

ځان ته ښه وایی او ښه نه کړی.

ځان ځانی، خپله خواری.

ځان دې وخوری نوکری، چې به لږو ډیر لری.

ځانه ځانه، تر هر چا گرانه.

* ځلمی دځوانې په نیشه مست وی، دچا نه اوری.

* ځنگل چې اور واخلی، وچ او لانده ټول سوځی.

* ځوان پر غږی، زور پر لری.

ځوانه ښځه د زاړه خوا وهی.

ځوانی نه پتیږی.

ځوانی د زړو روپو آس دی.

* ځای ته گوره، بیا نو ښوره.

ځای در تنگ، اوبه در خړې.

(ح)

* حاجی په مکه کې لتوه، چرسی په تکیه کې.
حال منصور وایه، چې سر یې په دار شو.
* حرام چې دچا په کور ننوتلی وی، حلال یې هم ورسره تللی وې.
* حساب په مثقال، بخشش په خروار.
حساب په کک، بخشش په لک.
حسد هسې نیکی خوری، لکه بل اور چې لرگی خوری.
* حق آخر حقدار ته رسی.
حق خپل ځای نیسی.
حق په تا، حق له تا.
حقې روژې تیرې دی، نفلی زه نه نیسم.
* حیادار حیا کوله، بې حیا ویل : زما څخه بیر یږی.
حیوان قیمت په بارداری جگوی، انسان یې په کارداری.
حیوان چې بې کاره شی، هم خورل کیږی، هم خرڅیږی.

(چ)

* چا په کلی کې نه پریښود ، ده ویل آس مې دملک کړه وتړی.
چا په ورا کې نه پریښود ، ده ویل د مخ اوښ زما دی.
چا ته چې شی نه ورکوې، ورته بنکاره کوه یې مه.
چاړه چې دسرو زرو شی، څوک یې په نس نه منډی.
چا مونده ، ما مونده.
* چتې زور ووینې، په زیره یې پرور ووینی.
چتې چې ځوان ووینی، صورت حیران ووینی.
* چرت یې واهه، خورجین یې بایلود.
* چرسی چې موزی نه وی، په چلم کې لا سخی وی.
چرسی زوی ، نه زوی، تریاکی ، دوه په ایکی.
چرګ په تالې کې ګورد.
چرګ دې یم، حلالود مې مه.
چرګ په ډیران مه ګورد، پر کاسه یې ګورد.
چرګ چې ښکیږی، زړه یې تنګیږی
چرګ چې ځوان شی، پر بام ورو ورو ځی.
چرګ په پردیو غورو مست وی.
چرګ پر بام کرار ته ، ویل یې چې بام ترما لاندې و نه نړیږی.
چرګ دمالګی په څکلو څه پوهیږی.

چرگ یو مارغه دی، چې چا ونیو دهغه دی.
چرگه مې ناجوړه ده، بانه مې ورته جوړه ده.
چرگه چې ببره شی، له پیشی نه کمه نه ده.
چرگه د جولا لاړه، نوم د ملک وشو.
چرگه زما، هګۍ د بل کړه اچوی.
* چغال ته الو نه رسیده، ویل یې دا تروه دی.
چغال پر نعمت شکر کینې، چرگ یې د خولې ووت.
چغری څنبتن نه موند، امر خیلو وطن؟
چُغل په خوی غل، چې چُغلی کوی د بل.
* چور په اجاره دی.
چوغکې دی، یو تر بل چابکې دی.
چې اړ شی، وخره ته هم ماما وایی.
چې اختر تیر شی، نکریزې په دیوال وتپه.
چې اوبه وی، تیمم ته څه حاجت.
* چې اوبه نه وی، ژوندون ګران دی.
* چې اوبه ته وایی « پانی » سر یې لاندې که ترکانې؟
چې اور یې بل شی، خدای یې مل شی.
چې اوش دی کړ، ویې ترړ؟
چې اول لری، آخر نه لری.
چې ایمان وی، مرګ څه دی.
چې بابا ژوندی ؤ، د ادې په لاس کودې ؤ.

چې بابا ژوندی ؤ، هلته ادې ادې وه.

چې بابر یې، زما په کتاب پر یې.

چې بادار حضور شی، مریی ترور شی.

چې باد نه وی، ونه نه ښوری.

چې باد یې وی د پاسه، باران یې سمدلاسه.

چې باد یې وی د کنبې، وریځ زغلی لکه بزې.

چې بتی خوری، مولی به زغمې.

چې بخت نه وی، دانډس نه زده کیږی.

چې بخت یې تور شی، دښمن یې د پلار کور شی.

چې بد کوی، بد به مومی.

چې بد کوی کارونه، هغه بد وینی خوښونه.

چې بد گرزې، بد پرزی.

چې بده غواړی، په بده به واوړی.

چې بل یې وخوری، گل به شی.

چې بې ځایه اشنایی کړی، اور بل په خپل تندی کړی.

چې بی قامه شی، بې مقامه شی.

چې بې ملوځی، تور مار یې پر اوږو ځی.

چې درانه بارونه وړی، خوراک یې ځوزدی.

چې پال گورم ښه راځی، چې یار گورم ښه نه راځی.

چې پردی کورته یې طمعه شی، یو من غوښه یې کمه شی.

چې پر لوړه گرځی، پر ژوره پرزی.

چې پزه و نه لری، دختو نه ، نه جوړیږی.

چې پزې یې وی پیتی، هغه ناستې وې مزبوتې.

چې پلار یې وز نه وی ویشتلی، مور یې غوز نه وی ویشتلی.

چې پوڅې خورې، متار به سهی.

چې پور ګنې، نور وګټه.

چې په پټه وی، په بنکاره لنګیږی.

چې په تا درشم کور نه ورکې، چې په ما راشی خورکی.

چې په تمه دسور وشی، هغه پاتې په میرو شی.

چې په ځان کې وینی، په جهان کې وینی.

چې په ځان یې خوری خاورې کیږی، چې په بل یې خوری، ګل کیږی.

چې په خره دې کار نه دی، ایشه ورته مه وایه.

چې په ډیر حرص یې غواړی، هغه کم خوری.

چې په ډیر یې واخلې، په لږ یې مه خرڅوه.

چې په ډکه کاسه مور نشی، په ختلو یې نه مړیږی.

چې په ډله کې دوست نه وی، مه پکښې کښینه.

چې په زور ورسره نه یې برابر، دهغو تر څنګه مه کښینه زړه ور.

چې په کار شرمیږی، هغه کله پورته کیږی.

چې په کورکې غوړی مومی، لیونی به غږو ته درومی.

چې په مرګ یې وژیسی، په تبه به راضی شی.

چې په میله کې سور سګ خوری، کور به څه خوری.

چې چه نازو لویږی، په زیار زریږی.

چې په نیمه شپه بیدار یې، که نابلد یې زما یار یې.
چې پیر یې زورور وی، مُریدان یې زنځیرونه ماتوی.
چې پیر وی، فقیر وی.
چې پیلان ساتی، پیلخانې به لوړې جوړوی.
چې پیلان ساتی، دروازې به دنګی جوړوی.
چې تاوکرل، ماوریبل.
چې تر ملکه دې کړه، نوورکه دې کړه.
چې تل ځی په غدی، یوه ورځ به یې وی دکم بختی.
چې توري په تیری شی، پل په اشرپی شی.
چې توري چلیږی، وینې بهیږی.
چې توري وهی، تور زن یې بولی.
چې ته مې ولیدې، په ځان مې شکر وکینې
چې تیار وی، هغه د یار وی.
چې تیر شول، هغه هیر شول.
چې چرګ نه ؤ، اذان چا کاوه.
چې چم لری چمتو دی، چې چم نه لری هنډو دی.
چې چنګښې وایی غار، ترکی وایی کندهار.
چې چنګښې وایی کور، ترکی وایی مقر.
چې حج حج لرې، یو وخت به حاجی شی.
چې خان یې په یاران یې، چې یاران درسره نه وی، توري خاورې د بیابان یې.

چې خاوند يې ليتی خوری، د سپو به يې څه حال وی.
چې خاوند يې نينې چيچی، نو سپی نه به څه وراچوی.
چې خبر شی بې اثر، ترينه پټه خوله بهتر.
چې خپل دې وی خوره، چې خپل وې نه وی مره.
چې خپل دې پکښې نه وی، په هغه مرکه کښې مه کښينه.
چې خدای يې چاته ورکوی، د شاليزو او داؤد زو تر منځ يې ورکوی.
چې خدای يې شرموی، داس په سر به يې سپی خوری.
چې خدای يې ورکوی، بتل يې (۱) يار دی.
چې خدای يې کوی، هغه به وشی.
چې خر نه لری، په خره نه ارزی.
چې خر نه شی، غوړ به نه شی.
چې خوری، نه مری.
چې خوله خوږه پری، زړه بدپری.
چې خوله لری قراره، نه به بوره شی نه وراره.
چې خوی بد شی، پلمې ډيرې پری.
چې خير دې نه رسيږی، بد مه رسوه.
چې خير تاته درکړم، ابی به په څه شی پورې باسم.
چې داختر کالی دې دا دی، د لوبه دې لا کوم وی.
چې دا غړ که کوچ کړی، طالبان به راته وچ کړی.
چې دا ملا کيسې کړی، ما به غونډه ورپسې کړی.

---

(۱)- بتل يو ډول هاونګ ته وايی، چې بنګی پکښې زدول کيږی.

چې د بل مور بوروي، ستا به هم بوره کې.

چې د بنګو بتل زدویی، اخر به بنګی شی.

چې د جان شی تر سر تیره، خدای دې نه کړی دانا بوده دنیا دیره.

چې د خدای وعده پوره شی، د بنده سخه به پخه شی.

چې د ددو بنځو څنبتن وی، سخت به یې ځنکندن وی.

چې د رانه بارونه وړی، خوراک یې ځوزوی.

چې د ردی شی په ستونې، ستا به هیر شی زوی او لونې.

چې د روند نه شوې، نو سپک په څه شوې.

چې د رومی، څه به مومی.

چې د ر یې نه کړم، ازار دې په څه کړم.

چې د رندو پر کوڅه راشی، پر یوه ستر گه لاس پوده.

چې دې زده کړه په طفلی، هیر به یې نه کړی تر پیری.

چې د زره وکړی، او گرې ته به هم تبې وکړې.

چې د ستر گو نه لرې شی، د زره نه به هم لرې شی.

چې د شپې لا ر نه شې، د ورځې به ځای ته ونه رسیږې.

چې د کاسې په منځ مور نه شې، په څنډو به یې هم مور نه شی.

چې د گور سختی په زره کړم، زه به ولې ژرا نه کړم.

چې د گنډلو نه وې، ولې دې څیره.

چې د گیدړې په جنګ ورځې، تا یه د زمری نیسه.

چې د ملا غواړې، خدای دې نغاړې، چې ملا ته یې ورکوی.
خدای ته یې ورکوی.

چې دنیا شی په ما تیره، خدای دې نه کړی دانا بوده دنیا ډیره.

چې دنیا درغلهځای ورکوه، چې تله لا رورکوه.

چې دود نه وی، سود نه وی.

چې دوستی کوی په زړ مه بیریږه، چې دښمنی کوی په سر مه بیریږی.

چې ډب نه وی، ادب نه وی.

چې ډوډی وی، بې دسترخانه هم خوړله کیږی.

چې ډول دې وی په څنګ، د وهلو یې څه ننګ.

چې ډیر وایی، لږ خیژی.

چې راځی دبل دکوره، پرتا به شپه شی تکه توره.

چې راپورې دی نه کړه، راځخه پرې دې په څه کړه.

چې رارسیږی دسوات بیستی (۱) دخورانو به ښکار شی سرې پنډی.

چې وخت لری، بخت لری.

چې روپی وی برګې، چپلی ډیرې وی.

چې زړوی، زاری دځه ده؟

چې زر لری، خبر لری.

چې زور نه وی، خواړ ږیږد به څه وکړی.

چې زده کړې درویزد، هیږد به نه کړی دا مزه.

چې زړه خوږیږی، له ړوندو ستر ګو هم اوښکې څی.

چې زړه تنګ نه وی، ځای نه تنګیږی.

چې زړه یې غواړی، خوله یې هم وایی.

---

(۱)- بیستی خامتا ته وایی.

چې زما پر زړه يې ليکلی، څه پاچا څه لنګ وهلی.

چې زما سره ځې، تل به توري وځکې خوري.

چې زور تير شی، عقل هير شی.

چې زور د زورور شی، پتې له تخمه سره خپل شی،

چې زه کونډه يم، پر دنيا دی ميړه نه وی.

چې زيار کارزی، ګټې دهغو دی.

چې ژرنده يې ګرزی، بلا يې پرزی.

چې ژوندی وی، قلندر وی، چې مړ شی چغندر وی.

چې ژوندی يم نه مې غواړه، چې مړ شوم مه را پسې ژاړه.

چې زړغ شی دشکنې، زړه مې نه شي که يې منی.

چې سبا شی غم پيدا شی، چې بيګا شی، غم پنا شی.

چې ستا له کوزه رائی، په غلبيل کې دې رائی.

چې ستا بې ما رغيږی، زما هم ساعت بې تا تيريږی.

چې سر وې، خولی ډيرې دی.

چې سر دی نه خوږيږی، داغ پرې مه ږده!

چې سره ونه ميژی، (۱) سره به ونه ګټی.

چې سر و مال تړې جار کړې، نو هر سړی به يار کړې.

چې سم دچا ويل وی، په هر چا يې منل وی.

چې سود کوې، سودا به مومی.

چې سيلخکی خورې، نيغکی به زغمی.

---

(۱)- ميژل: مينه کولو ته وايی.

چې شپه تياره شی، بدان تيره شی.

چې شپه يې تر منځ وی، له هغې بلا مه بيريږه.

چې شرم نه لری، ايمان نه لری.

چې بنه وی، بد دې اور واخلی.

چې بنيرې کړی ، هغه به خپلې مينې سپيرې کړی.

چې طلب يې کوې، پرې پيښ به شې.

چې عقل نه لری، پر کوربې تل غم وی.

چې عقل يې ويشه، ته چيرې وې.

چې عقل يې کم وی، زيات يې غم وی.

چې غټ شې پرن دې بولی، چې ډنگر شې کرن دې لولی.

چې غټ وی ، لټ وی.

چې غل نه يې ؛ له باچا مه بيريږه!

چې غل نه تنبتی ، مل دې وتنبتی.

چې غل نه يې؛ دجوال خوله مه ورسرد نيسه.

چې غلې غلې باسی، هغه تل کانې پرې باسی.

چې غواړی، پرې واوړی.

چې غوټه په لاس خلاسيږی، حاجت خولې ته نشته.

چې قاضی دې مدعی شی، دعوه به دچا سره کوی.

چې څه کړې، هغه به ريبې.

چې کډی دې زيږاوه، غم به يې وړې.

چې کلی په نامه لری، يو خوی تر نورو بنه لری.

چې کوچنی وی پر پښو ځی، چې لوی شی پر وارو ځی.

چې کوچنی ونه ژاړی، مور تی نه ورکوی.

چې کور پر غړه لری، هم نوی هم زاړه لری.

چې ګُل کړې، ګُل به ریبې.

چې لاس په خوشیو نه شی، خوله به په غورو نه شی.

چې لږ خوری، هغه تل خوری، چې ډیر خوری، زهر ګندیر خوری.

چې لوی غاپی، کوچنی تراپی.

چې له ځانه مست نه وی، په بنګو نه مستیږی.

چې له خدایه پته نه وی، د بندګانو یې ولې پته وی.

چې له یار دوایی، له ځانه وایی.

چې لیوه میږه خوری، په تورو شپه یې خوری.

چې مالګه وخوړې، لوبنی مه ماتوه.

چې مړی لړې، مربا خورده.

چې مړی لړې، میلمه ګی څه دی، چې ایمان لړې مرګی څه دی.

چې مړه شی امیران، نیمګړی نه دی دا جهان.

چې مړه شو، هغه پړ شو.

چې مړه شی مومنان، یا به باد وی یا باران.

چې میلمه شې، آسوده شی.

چې میړه نه وی، هلته کورونه وی.

چې مشر یې غمبر وی، اختریې مازیګر وی.

چې مور دې نه وی په پلرګنی، هورې ولې ځې لیونی.

چې مور لری ادکه، په صفت به يې واده که.

چې مال لری، اقبال لری.

چې مور يې بتياری وی، زوی يې نه فتح خان کيږی.

چې مور ميرده شی، پلار پلندر شی.

چې مينبه زهير وې، کتی يې وهه.

چې ناچاری شی، سړی توړې ته هم لاس اچوی.

چې نرکچور درسره نه وی، بوی دې نه ځی سور لرګيه.

چې نری وی، زمری وی.

چې نغده دې وليده، څنګه دې وخندل.

چې نغری سور وی، اولاد به يې کله مور وی.

چې نه ځې په شا به دې کم چې نه خورې څه به دې کم.

چې نه ځنې خلاسيږی، بيړه پرې ورځه!

چې نواله خورې، جانباز به وهی.

چې نوم دې دغله دی، ناستې دې په څه دی.

چې نوم يې وی شړی، څه پيړه څه نری.

چې نه دې وی غله، مه دې اس مه دې ګله.

چې نه دی وی سړی، مه نغن خورد مه غوړی.

چې نه دې وينم، آخر به مې هير شې.

چې نه دې وی له مورد هسې مه وايه چې ورورد.

چې نه دی وی له پښته، له هغو کسانو تښته.

چې نه دی وی غمخور، پاتې دې مشه ميراث خور.

چې نه غواړم ، هغه مه را پیښوی.

چې نه کار ، هلته څه کار.

چې نه کوی حبیب، څه به وکړی خوار طبیب.

چې نه کوی ننګونه، هغه پس کوی مړونه.

چې نه لری هلک، هغه کورد تیغ لایق.

چې نه لری سړی ، نه دې کورت خوری، نه غوړی.

چې نه لری باغچې ، هغه دې نه خوری الوچی.

چې نه لری پنګه، کښینه د چا له څنګه.

چې نه منی د یار پندونه، لاس به نسی په سرونه.

چې نه وی پاکرلی، څه به یې وی ریبلی.

چې واک یې دموروی، کانې یې په کوروی.

چې وخوری دنر لغته، داسې به کینی لکه اورته.

چې وخوری پیتی، سردې کښیږدد په لښتی.

چې ودې نه پوښتی ، مه ګډیږد.

چې ولاړ شی تر بلخه، درسرد دد خپله برخه.

چې ولویدې د اول بخت، بیا دې نه وینم دوهم بخت.

چې وې غواړې په خوله، خورې به یې په څه.

چې هر څنګه وږی شی، تانتې لا نه چیچی.

چې هلک دې ملک شو، کلی دی ورک شو.

چې هوږد ونه خوری، له خولې یې بوی نه ځی.

چې هوس دی، دغومره بس دی.

چې هوسی نیسی، د هغو تازیانو خولې تورې وی.

چې یاری کوی، شوګیری به تیروی.

چې یو لوریې تر ملاوی، مه یې ځنې رغوه.

چې یو مړ نه شی، بل به مړ نه شی.

چې یو خوری بل ورنه ګوری، د اسمان کانې به پې اوری.

چیرې...، چیرې څنګل.

چیرې چې ډنګ شی، د ابی ګودی تر څنګ شی.

چیرې چې کولاله ګورد، خو خپله سیاله ګورد.

« « « * * * * * » » »

(خ)

خان صاحب يو تار وريښم نه خوړل، لس زره روپۍ يې وخوړلې.

خاورو په ايرو واړول، باد دواړه يوړل.

خاوره (١) د خوسر د کوره اخستل کيږی.

خبره دخدای د پاره، لوړه د ورور د پاره.

خبره تر خبرې پورې يادېږی.

خبرې ښې کوې، لکی يې کږې کوې.

خپل به دې وژړوی، پردی به دې وخندوی.

خپل ته نامه وړه، بل ته جامه وړه.

خپل سر په خپله نه خرڅيل کيږی.

خپل عمل، دلارې مل.

خپل دې که مړ کې، لمر ته دې نه غورځوی.

خپل کور، يا خپل گور.

خپل وهلی ښه دی، پردی پورې وهلی.

خپل پر تنگسه په کار دی.

خپل دا په نس، د بل دا په وس.

---

(١) - ددې متل معنی داده، چې اکثراً اولاد مور ته ورته وی.

خپل ځان دې ساته، بل ته مه وایه چې غله.

خپل مال تر ستر ګو لاندې بنه دی.

خپل وطنه، ګله وطنه.

خپل خپل، پردی په ډیرو نارو خپل.

خپل یې که ورکوی، بیا منت وربانده نه ږدی.

خپل هغه دی، چې بیګا یې کور وینی، سبا یې اور وینی.

خپل عیب دولو منځ، د بل عیب د کلی منځ.

خپله شړی بنه دد، نه د بل ورینبمن شال.

خپله خوله، هم کلا ده هم بلا.

خپله پښه خپله پنه پیژنی.

خپله لاسه، ګله لاسه.

خپله خوله (۱) په بل نه وچیږی.

خپله مرسته، له خپله دسته.

خپله خواری نه ژاړی، سر څخوړی (۲) غواړی.

خپلوی له لرې بنه ده، نه له نژدې.

خپلې موړې را نژدې شه، پردی موړې د زړه لمبه مې درپسې شه.

* خدای په ربنتیا خو بنیږی.

خدای د حق ملګری دی.

---

(۱)- یعنې خپله خواری انسان په خپل زیار ایسته کولی شی.

(۲)-یعنې خپلې خواری ته یې پام نه دی ، بې ځایه اغایې کوی.
یا خپلې خواری ته یې پام نشته د شال خواست کوی.

خدای کوږ کړی نه سمیږی.

خدای او پاچا یې راکوی، شیخ میر یې نه راکوی.

خدای دې په هغو پوښته چې لری یې.

خدای وایی ته حرکت کوه، زه به برکت کوم.

خدای د بل په گناه څوک نه نیسی.

خدایه لوی مې کې، لویې رامه کې.

* خر پر لار که، پرې بار خپله چارکه.

خر په پالانه، نه دریږی.

خر په زین اس کیدی نه شی.

خر په غره کښې بوعلی دی.

خر نه دی کچر دی، پرې پورې د خره سر دی.

خر چې تر خره پاتې شی، غوږ یې د پریکولو دی.

خر څې تر مکې ولاړ شی، هغه خر دی.

خر له باره ولوید، له مستی و نه لوید.

خر ځان ته اریان ؤ، خاوند یې بار ته.

خر مردار یده نه، او سپی تر تله نه.

خر له وری پاتې کیږی، له هنگه نه پاتې کیږی.

خر خپل او پردې فصل څه پیژنی.

خر هغه دی، ځل یې بل دی.

خره ته دې خدای بنکر نه ورکوی، که بنکر ورکړی، د غوږو نسونه به څیری کی.

خرې ته يې ويل زوی دې وشو، ويل څه يې کوم خپل بار به وړی خپل به وړم.

خرد ته يې ګل ونيو، هغه وخوړ.

خره ته جوار او وريشې يو دی.

خره ګله که، بيا ګيله که.

* خلک په ليونی پورې خاندی، ليونی په خلکو.

خلک پيسې راوړی، ژاولن ريچې.

خلک هر څه کوی، خو هر څه نه وايی.

* خوار په خپله خواری نه شرميږی.

خوار تلتک نه درلود، چې پيدا يې کړ تر غرمې پکښې پروت ؤ.

خوار کبرجن، دخدای دښمن دی.

خوار خدای کړې، سپی چا کړې.

خوار سړی، برګ يې سپی.

خواران، په هرځای کې اريان.

خوار په هندوستان هم خوار دی.

خوار کور، له ديواله معلوميږی.

خوار شوم، نو هوښيار شوم.

خوار شی دکس، نه دناکس.

خواره به دې غواړم، نه د ورور د مرګه.

خواره شې مکارې، چې هم جنګ کوې، هم ژاړې.

خواره شې چرګې، چې له خياله مستک نه خورې.

خواره هغه کړې، چې ګاللی يې شی ، بوره هغه کړې ، چې ژړلای شی.
خواره شې خندی ، نه پر غم يې نه پر بنادی.
خواړې لورې تخت به زه درکم ، بخت دې خدای.
خواری دميړو په شا ده.
خواړې خواری ما وکړې، د کور ميرمن ته شوې.
خواری نه عيب ده ، نه پيغور.
خواړه که د بل ؤ ، نس خو دې خپل ؤ.
خواړه درنګه خوړل کيږی.
خواست چې کوې، داس کوه.
خوابنې پر زوم ريږدی، زوم بې لور ورپرې ږدی.
خوب د مرګ ورور دی.
خوب په روغ صورت کيږی.
خوب چې راشی بالنبت نه غواړی ، مينه چې راشی، بنايست نه غواړی.
خورې تخت به زه درکم، بخت دې خپل دی.
خوره چنبه، حساب مه منه.
خوريی د ماما د مينې د بنمن دی.
خورې سور سک، تيغ د پلا و باسې.
خورې دا خو مې غورد دی، جاغور مې لا بل دی.
خوږ به دې کم، خونه ترڅانه.
خوشحال خټک ، په درندو درونډ ، په سپکو سپک.
خوله په غابنو بنايسته وی.

خوله چې اموخته شی، اس نه دی چې کیزه شی.
خوله دې دسوی ده، شخوند د اوښ وهې.
خویندې مړې شوې، چې پاتې ترلې شوې.
خوی چې بد شی، بانې ډیرې دی.
* خیرات دې وشه، دمړو په اروا دې مه شه.
خیرات لا پوخ نه دی، بنانک یې وړته په سر نیولی.
خیری په اوبو پاکیږی، او وینې په وینو.
خیښې په خوښی، سودا په رضا.

(د)

* د اباد غونه ږیره وه، چې په تاویزو کې ولاړه.
د اباد مرګه پس، په ادې ورغی هوس.
د اباسین نه چې اوبه غواړې، تږی نه یې.
د ابی د غومړه اوګرده وه، چې په څکه څکه خلاصه شوه.
د څربه خره څخه ډنګر اس نه دی.
دا خوله، هغه حلوا.
دا دپتی سر دی، پتی بیرته سورور دی.
دا دحافظ غونډاری دی.
دا دنیا که د یوه شی، هغه یو به پرې مړ نه شی.

دا دې څوک نه وایی چې خواریم، بډای به نه شم،
بډای یم خوار به نه شم.
دا دې کور، دا دې اور، که چیرې لاړې مخ دې تور.
دادو (١) د کلی میاشې، کله ورک، کله پیدا شی.
د اس لغته اس زغمی.
د اس کیزه چاته مه ورکوه.
د اسمانی تکی څخه څوک ځان نه شی ساتلی.
داسې و نه نشته؟ چې باد دې نه وی بنورولې.
داسې کار وی د کهال، انګور غواړی بې دیوال.
داسې مړی مه کوه، چې خوله دې پرې څیرې شی.
داسې ممیز نشته، چې خلی پورې نشته.
داسې مه وایه چې زه یم، داسې به شی لکه چې زه یم.
داصیلې کول سخت ساتنه یې اسانه، د کم اصلی کول اسان ساتنه یې سخت.
دانصاف په وخت ګیډه او زمری یو ځای اوبه څښی.
د اوبو لار په وتی ده.
د اور سوی په اور رغیږی.
د اور سوی جوړیږی، خو دلمر سوی نه جوړیږی.
د اور لمبه که سړی هر څو بنکته کوی، هغه اخر سر اوچتوی.

---

(١)- دادو د یو سړی نوم دی.
(٢)- لوښلنی د اوړو د لوښی د پرولونی اوبو ته وایی.

د اوړی لوښلنی (۲) دژمی نګولی.

د اوړی نه شړی کیږی.

د اوښ په شان د سر سیوری مه خوره.

د اوښ په شا سپو وخورم.

د اوښ او خره بار له ورایه معلومیږی.

دا ګومان مې نه شی، چې له ایزه به زوی وشی.

د ایلنی ماریی، پټ چیچل کړې.

دایې ګز، دا یې میدان.

دا یې ډول او دایې ژرنده.

د بابا دغونه ږیره ده، چې دمچولو بس ده.

د باچا زور، د خدای زور.

د باران وریدد بویه، د مسافر وتله بویه.

د بارانه ولاړ شو، ناوې ته کنبیناست.

د بارانه تښتیدم، دناوې لاندې مې شپه شوه.

د باز په ځاله کې باز زیږی.

د باز عمر لنډ وی.

د بدسړ د چې ښه کړې، لکه خړ ته چې وا ښه کړې.

د بدمرغه سړی غوا به په ژمی کې لنګیږی.

د بدو د لارې، لاغلی لالړې.

د بدې خبرې سل کاله عمر دی.

د بډای په ختم د ملا ارمان نه خیژی.

د بڼای په ختم ملا نه ستړی کیږی.

د بډایانو په هیله، خواران له خواری ووته.

د بزې برخه چې وړی، نو به ډیر زحمت ګالی.

د بزې چې بدن کاوکی، دشپانه ډوډی خوری.

د بل په پر تاګه ځان نه پتیږی.

د بل په لاس کې مړی غټه ښکاریږی.

د بل په قول شرط مه ټړه.

د بل په دسترخان سل میلمانه، هیڅ دی.

د بل پر مړی نه دی، خپل یاسین تیزوی.

د بل تر وریجو، غوښو، سور سور سک د کور نښه دی.

د بل تر زوی، خپله پکه لور نښه ده.

د بل تر اتلسه، خپله خمتا نښه ده.

د بل تلتک تر نیمو شپو وی.

د بل خړی سام جن دی.

د بل د لاسه عسل ګنډیږی، د خپل لاس ګنډیر عسل دی.

د بل ډوډی، یا پور ده، یا پیغور.

د بل زوی، نه زوی.

د بل کار دایمان په رڼا کیږی.

د بل کار که دې نښه وکه لاس پرې تور، که دې بد وکړ مخ پرې تور.

د بل کور چا خوار نه دی لیدلې.

د بل نیستی نه لری.

د بل وطن یاری، د سر سودا ده.

د بنده مخ د خدای له نوره دی.

د بنده هیله گنده ده.

د بنده ویره، په ستر گو کې ده.

د بنگړو باریې، زه دې ترم ته ورانیږې.

د بورې سود، په بورې شی.

د بیکاری لاروړکیږی، د کارداری لاروړنیږی.

د بې پیره کار بد مذهبه کوی.

د بې صبرو دې کور وران شی، مونږ ته یې په ځمکه واچوه.

د بې عقلې بنځې، تل کمیس سوزی.

د بې غیرته کاله، میلمه واکدار دی.

د بې کاره، خدای بیزاره.

د بې ننګې په ننګه به تل شرمنده یې.

د بې نیازه چې مرور یې، هغو نه سود من یې.

د پاچا پاچاهی ځی، د مزدور مزدوری.

د پاخه اوستا د دیګ په ورو ورو پخیږی.

د پای څې رګ نه پریښود کیږی.

د پردی ابی نه، خپله تبی بنه ده.

د پردی په زوی، د عزرائیل څه؟

د پردی اس نه، خپل تټو بنه دی.

د پردی توری مصری مې لور په غاړه بنه دی.

د پردی تور سرې بنه غواړه، دخپلې تورسرې د پاره.

د پرانګ سپینې منګلې، شپنو پوڅې پرې ویشلې.

د پسری تر ګلو د ژمی اور بنه دی، تر ناسیاله بنځې، جره کور بنه ده.

د پشی اول تهس ته څوک ځان نه نیسی.

د پشی منډه تر کاداني پورې وی.

د پشی نظر په کولپی (۱) وی.

د پښې پر دکان که و نه سوځې، بڅرکی به د روالوځی.

د پښې کور چې وسو، هغو نه بنه شو.

د پښتنو جورد په پرده وی، مرګ یې هسې پلمه وی.

د پښو خاورې سترګو ته الوځی.

د پلار اشنا، د زوی کاکا.

د پلار ګټه د امبار کوټه، د زوی ګټه د زړه غوټه.

د پور دلاسه، دوه کوره خرابیږی.

د پود سړی دوستی زیان نه لری.

د پیښې څخه تیښته نشته.

د پیغلې شل مخه په بوخچه کنبې دی.

د پیل په یود وځکه څه کیږی.

د پیل یود تبه مرګ دی.

د تا چې څومره خیال دی، زما هغومره مال دی.

د تا لندې چې د ربی شی، د شپانه ورته غرمبی شی.

---

(۱) - خمیر دان.

د تبر خوله نیمځی نیولې ده.

د تخته که ولویږم، دځمکې نه لویږم.

د تربور په زړه سوی کې، پیغور نغښتی دی.

د تروړې په ډیر ایرس، رنګ یې بد کړ د اولس.

د ترم چې څه دی، یو پو دی.

د تش توپکه دوه کسه بیریږی.

د تشه ډاګه به سیلی څه یوسی.

د تورو مخ رڼا وی.

د توړې شپې ناره بې څه نه وی.

د توری وهلی به جوړ شی، دخولې ویشتلی نه جوړیږی.

د توری تپ جوړیږی، د بدې خبرې تپ نه جوړیږی.

د ټولو نیمه نیمه، د ابی شود یود نیمه.

د ټپوس دځالې نه، ټپوس پاڅی.

د جنګ څخه به روغ راشی، مګر له ځنګله څخه نه.

د جنګ شپې دې وی، د غم دې نه وی.

د جنګ خوړې خبرې، ساعت یې تریخ دی.

د جنګ میدان په پښو نه وهل کیږی.

د جنګه زده راغلم، خبرې ته کوې.

د ځوانی بیکاری، د سپین ږیرتوب خواری.

د چا اول، د چا آخر.

د چا چې یوه ستر ګه ړنده شی، پر بله لاس ږدی.

دچا دروازه مه تکوه په گوته، ستا به نه وهی په لغته.

د چرگ په اذان نه سهار کیږی.

د چغال تر ناز، د زمری څیرل ښه دی.

دچغال کور، بې چرگه نه وی.

د چنگښو من نه پوره کیږی.

د چیدی به لاس وانه خلم چیدی، که مې سر پر چیدی پرې شی چیدی.

دحق څښتن ډاډه وی.

د خاورو ولاړ شو، پر ایرو کښینناست.

د خیرې مرگ هیره ده.

دخپل خپلوی ښه ده، نزدیکت یې ښه نه دی.

د خپل کاله خور او لور کړمیز نه وی.

دخپل کور غل نه نیول کیږی.

دخپل وطن گیدړ، د بل وطن تر زمری ښه دی.

د خپلو ازاریده شته، بیزاریده نشته.

دخپله نه رغیږی.

دخپلې کمبلې سرد پښې غزوه.

د خدای امر چې وشی، پلار یې نه وی زوی یې وشی.

د خدای په چارو د چا وس نه رسیږی.

دخدای داسې رضا ده، ابد له ودوو د ترینې ورا ده.

د خدای کاږه دې خدای سم کړی.

د خدای گناکار په توبه خلاسیږی، او د بنده په ناغه.

دخدای نظر یا پر زهیرو زړو دی، یا پر نړیدلو قبرو.

د خدای چې رضا شی، ورځ یې سمه شی.

دخره بارچې دروندوی، ښه ځی.

د خره مړی، د سپو اختر دی.

د خره څنبتن ته پیښبه ده.

دخره لکی چې له هرې خوا لویشت کی، دوه لویشتې دد.

دخره مینه لغته ده.

د خره نه یې کته لویه ده.

دخوار په لاس کې غلمینه ډوډی بده ایسی.

د خوار خپله خواری بس ده.

د خوار کاله وړی دې خدای مارہ کړی.

د خوارانو برخې، پر اغزیو څرخی.

د خوار رنځور پوښتنه رحمت دی، د بډای سړی منت.

د خوار مُلا مسئله څوک نه اوری.

د خوار ملا په اذان څوک کلمه نه وایی.

د خوار سړی ځای به په زور گیلم وی.

د خوابنې هلته ورځ کړه شی، چې د زوم کره یې شپه شی.

دخواړې کونډې زویه، خپله روتی ژویه.

دخواری څخه پر ژرنده ناست، دکبره مزد نه اخلی.

دخوار یوه وزه وه، هغه هم گوډه رنده وه.

د خوریی خاوره، دماما دنغری څخه ده.

دخولې او زړه وینا چې یوه شی یارانه تړې جوړیږی.

دخطا یا ناغه وی، یا توبه.

دخیاله دلونګو لونه کوی، دلوړې څانښت کښینی.

د خیرات وز یا لنډی وی، یا بوچی.

د خیرات په خوا کښې دی کوی.

د خیره مې دې توبه، کاسه مې په لاس راکړه.

د داسې سړی په لاس مړ مه شی، چې سل یې نه وی وژلی.

د دستر خان پر لمن څه دوست، څه دښمن.

د دادو ورکې مینې، ګازری خدایرام خیله یوړې.

د دښمن کره ځم، دوست مې ګرو دی.

د دښمن د غصې، غم شړم په تماشې.

د د کاندار ستر ګې تول دی.

د دنیا پیغور، د آخرت تر اور کم نه دی.

د دنیا څخه چې وفا غواړی، لکه د مړو څخه چې خندا غواړی.

د دوبی سخی، د ژمی صوفی نه دی په کار.

د دوبی کور داختر په ورځ ګوره.

د دوو خرو وربشی نه شی بیلولی.

د دوست په منت خپه نه شې، د دښمن په خندا ونه غولیږی.

د دوست پوستین می وکینې، خو د دښمن دروازې ته ورنه غلم.

د دوست لاس درد نه لری.

د دیوال عمر، له اخیره پورې نه.

ددې کلی خورزو ده، په دې کلی واده ده.

دډنډ اوبه چې ډیرې ودریږی گنده شی.

د ډم سترگې به تل په نغری وی.

د ډول آواز د لرې ښه خوند کوی.

د ډیر کار ډیره گټه وی.

د ډیرو ډیر مری، د لږو لږ.

دروغو ته د ربنتیا رنگ ورکول، گران دی.

دریاب که لوی دی، چمچه دې خپله ده.

د رویبار په دواړو مخ تور دی.

دریاب په لپه نه کمیږی.

دریاب په لوټه نه خړیږی.

دې پیتې ریشکه یې وخوړله، دی یې لا مږه بولی.

دریدلی په چانه دی چلیدلی.

د زاړه غوایی، یوه جوپه ده.

د زړه مینه، په لاس ښکاره کیږی.

د زړه، زړه ته لاړ وی.

د ړانده له نیولو، د کانه د وهلو دې خدای ساته.

د زرگر راستی دغه ده، چې غلا ورځخه و نه کی.

د زرو په قدر زرگر پوهیږی.

د زمری غاربې هډوکی نه وی.

د ډیرو لرگی، د یوه غوزی.

د ډيرو همسا ، ديوه ګيډی.

د ډيوې لاندې تياره وی.

درياندې به يې وځنډم، و به يې نه خورې.

د رشتيا ګوی د خولې سر سوری وی.

درکوم يې ، مګر په کم کانې، په تشه پيمانه.

دروغ د ايمان زيان دی.

دروغ وايه، په شرع يې زوغ وايه.

دروغجن دې دروغ وايی، هغه بل دې قياس کوی.

دروغجن، هير جن.

دروغجن سړی هر چاته سپک ښکاری.

دروغجن چې په دروغو ځان مجبور ګڼی هم دروغجن دی.

د زور اوبه په پيچومې هم خيژی.

د زورور څپلی، دخوار ککری.

د زورور وهل، دکم زورې ښکنځل.

د زورور يارې، دخره سپرلی.

د زورور ترځنګه مه کښينه زړه وره.

د زورور لښته نه پوردی، نه پيغور.

د زوی په هيله مور، له ميړه ووته.

د زوی ناره په هغو ده، چې د خدای وريا ندې پيرزو ده.

د زوی ميړانه د مور د تندی څخه معلوميږی.

د زوی په ميړانه، مور سر دسره ځوانه.

دزوی مې دې اور ته مری، د لور مې دې میړه، نه بوره نه وراره.
د ژاولن په کور کې خپلوان شرمیږی، په گور کې مُردگان.
د ژرندی لار له ډوله ده.
دژبې په توده، د دښمن په خوږ، مه غولیږه.
د ژرندې زه راغلم، له واره ته خبر یې.
د ژمی په لمر مه نازیږه، د دښمن په خندا.
دژمی پیتاوی دې هغه کوی، چې کندو یې ډک وی.
د ژمی اور هر څوک ځان ته راکاږی.
د سبا خبره سبا کیږی.
د سپو کور په کور دعوه ده، خوار فقیر ته یې یوه ده.
د سپو د نیستی نه چغالنو په کور کې ځای ونیوه.
د سپو له خواری، گیدړ پر بام کوی بازی.
د سپې په خوله دریاب نه مردارپږی.
د سپی او دمیړه وینې نه تللې کیږی.
د سپی دَم زده کړه، خو کوتک له لاسه مه غورځوه.
د سپی تر خوله چې هډو رسیږی، غنیمت دی.
دسپی تر لکۍ لاندې عمر هم تیرپږی.
د ستړی یوه دمه، د وږی یوه مړی.
د ستنې له ښوری چا بار نه دې ایستلی.
د سر پر ځای مې پښې وای، دژی خوله را نژدې وای.
دسر نه چې تیر شی، قلندر شی.

دسلو بللو ځای کیږی، او دیوه نابللی ځای نه کیږی.

د سلو کولبو خاوند، یوه لنډی ته ودریږی.

د سلو مرغانو دپاره، یوه ډبره کافی ده.

د سلو (هو!) نه، یوه (نه!) ښه ده.

د سلو کالو مور به په سل کاله وږی نه شی، دسلو کالو وږی به، په سل کاله مور نه شی.

د سلو غرونه پنا ښه دی، نه د یوه سینده.

د سوال په اوبو ژرنده نه چلیږی.

د سورناچی څه دی، یو پو دی.

د سوی دې خپلې غوښې دارو شی.

د سیال خواړه یا پور دی، یا پیغور.

د سیل ځای، گودر دی.

دسیند مړی چا گټلی.

د شپې کَه ولاړ نه شی د ورځې په مزله ته و نه رسیږې.

د شپې بند اوبو وړی دی.

د شپې هر سړی ډاریږی، څوک حال وایی، څوک یې نه وایی.

د شرمښ زوی، شرمښ وی.

د شلو کلویار، یوه ورځ شی په کار.

د شنې میږې وری که شین نه وی شین تکې به لری.

د شوم په شومي، وسول تول پتی.

د شوقدر شپه په شوگیر لیده کیږی.

د ښار دروازې ټرلی کیږی، دعالم خولې نه ټرل کیږی.
د ښاره زه راغلم، دنرخه ته خبر یې.
د ښاره ووځه، له نرخه مه وځه.

د ښځې چې د میړه سره راستی وی، د کور ژوند یې په درستی وی.
د ښکار غوښې، دځان غوښې.
د ښکاری وار ورباندی نه جوړیده، دنندارچی ورته بیړه وه.
دښمن دې چې په شا تومری، په زارو یې مه وژنه.
دښمنی په سلام نه ورکیږی.
دښمن هغه دی، چې اول یې (هو!) وی، اخیر یې (نه!).
دښمن یا سر ته گوری یا پښو ته.

د ښو به ښه وایی، د بدو به څوک څه وایی.
د ښو څخه ښه زیږی، د بدو څخه وا ښه.
د ښوروا دې مرور یم، د غوښو دې پخلا.
د ښو غوښو، ښه ښوروا وی.
د ښه پلاره د ښه مورە، بلا وزیږیده تورە.
د ښه خوی ښایسته په ښایستو نه گډیږی.

د ښې ورځې مې یار، د بدې ورځې مې بیزار.
د صبر میوه، په مراد پخیږی.
د صحرا مورک راغی، د کور مورک یې وویست.
د ظالم عُمر د خردجال پاچایی ده.
د ظلم کور وران دی.

د ظلم عُمر لنډ دی.

د ظلم کاسه آخر چپه ده.

د عالِمه سره غم نه غم دی.

د علم برخه درنده ده.

د عقل وسه په عشق نه رسیږی.

د عقل مې کمبود نشته، خو بخت نه لرم.

د عقل وړی چا لیدلی نه دی او د دنیا مور.

د عقل وړی نشته او د دنیا مور.

د غرض ځنبتن لټیونی وی.

د غاتري ترشا مه تیریږه، د مَلِک ترمخ.

د غرو ځنګلونه بې زمریانو نه وی.

د غریب په مرګ ځوک نه ژاړی.

د غریب مُلا پر اذان ځوک غوږ نه نیسی.

د غریب سړی به د خیرات په ورځ غوا ورکه وی.

د غریب مُلا پر اذان ځوک روژه نه ماتوی.

د غریب سړی به د اختر په ورځ په نس درد وی.

د غریب غابن به په حلوا ماتیږی.

د غلو ده ښه یاری، بده یې بیزاری.

د غلو مې کلی نه لید، د شګو مې څلی.

د غلو په ږیره خلی، غلګی لاس ورته نیولی.

د غله ځای په غره کښې نشته.

د غله کلا چا لیدلې ده.

د غله میړانه تینبته ده.

د غنمو له رویه ځوز اوبیږی.

دغنمو لار د ژرندې تر خولې ده.

د غنی که زړه سوی وشی ، خوار غریب به پاتې نه شی.

د کابړه تیکی سره کړه توره جوړیږی.

د کال خپله مې نه یې، خپلې شپې به درسره تیروم.

دکال ښه والی، د پسرلی څخه معلومیږی.

د کاله خور او لور کړمیز نه وی.

د کاله کشر مه شې ، دکاروان مشر مه شې.

دکانداری اسانه ده، خوسختی یې توکری دی.

دکان یې مه گوره، مال یې گوره.

د کبر کاسه نسکوره ده.

د کبرې توړې، کوږ چړتون وی.

دکم اصل لوی تیا ، د اصیل سپکتیا وی.

د کوتې یوه غوټه.

د کوچنی په ژبه خپله مور ښه پوهیږی.

د کور پیر چاته نه معلومیږی.

دکور توریالی دی، خو د بیابان خندنی دی.

دکور خبره، د باندې مه کوه.

د کور گټه، د لاهور گټه.

د کور غم به صحرا ته یوسم، د صحرا غم به چیر ته.

د کور غم، د گور غم.

د کور غم نه گلول کیږی.

د کور نوم له نیستی نه ور کیږی.

د کومبړ (۱) په کور کښې، روغ لوښی نشته.

د کونډې دوه غوایی وو، یو ووت نه، بل ننه ووت نه.

د کونډې هم زړه کیږی، هم یې ساړه.

د کونډې، نه دین شو، نه دنیا.

د کونډې غم د ځان وی، د لور یې د خان وی.

د کونډې کره زوی نه ؤ، چې زوی پیدا شو، مرگو گډه شوه.

د کونډې یوه لور وه، په سکونډلو کښې یوړه.

د کونډې زویه، څه خو بویه.

د کونډې زوی، نیم پاچا دی.

د کوڼی ختیه، په کوهی لگیږی.

د گټې او توری ځای تو پیر لری.

د گور خاورې، پر گور لگیږی.

د گودی لار په ژرنده ده.

د گور شپه نه پر کور کیږی.

د گوملې مړی، له گوملې غواړه.

د گونگ په ژبه مور پوهیږی.

---

(۱) - کومبړ: کولال ته وایی.

د ګونګ په ژبه ، ګونګ پوهیږی.

د ګیدړ تر ناز، دزمری څیرل ښه دی.

د ګیدړې او زمری اشنایی نه کیږی.

د لاس غوټه، په غاښ مه خلاسوه.

د لټ غوایی آخر خاوند قصاب دی.

د لږو لږ ، د ډیرو ډیر.

د لښکر په آخر ځه، دماټ په سر.

د لندو به څه لانده شی.

د لندو څټو لږې اوبه دارو دی.

د لور مې دې میړه مړ شی، د زوی مې دې اورته، زه دې ټوله یمه سمته.

د لوګړی چې رضا نه وې، لور په لوټه اچوی.

د لولی واته یو شرم، او ننه واته یې بل شرم.

د لیرې دې لیدی نه شم، دنژدې درته کتای نه شم.

د لیوه چې خوله سره شی، په لسو پسو بند نه دی.

د لیوه سره چې غوښې خوری، له څښتن سره تندی وهی.

د لویو ویالو څخه خیز مه وهه، چې لوند به شی.

د لوی منګی اوبه خوږې وی.

دماغ دې پیل وړای نشی، په کور کښې دې موږ کان له لوږی روژې نیسی.

د مارانو لارې چا بندې کړی دی.

د ماړه کور به سترګې وږي وی.

د ماهی چې اجل راشی، چجی ته نژدې کیږی.

د مرچو په څټه ناست دی.

د مرد خواړه د نامرد په نس کې پاتی کیږی.

د مرګ دارو ګران دی.

د مرګه مخ کنبې ځان مه وژنه.

د مرور برخه، یا درنه ده یا تالا ده.

د مرور برخه، د نسور ده.

د مړی پسول څه دی، دبنی کور څه دی.

د مریانو لنبکر څه وی، د خرو چرچر څه دی.

د میری څپیړه، د اور لمبه ده.

د مړاوو اوبو وبیریږه، له توندو اوبو مه بیریږه.

د مړو به لا څه بنادی وی.

د مړو لا کله په قیامت نه وه رضا.

د مړی قدر، په ژوندی باندې وی.

د مړه څخه شیطان لا بیزاره دی.

د مړه مال، په مړه پسې ځی.

د مجبوری یو نوم صبر دی.

د مسافر د شپو حساب مه کوه، د سرخواست یې کوه.

د مسافر ویر سوړ وی.

د مستې په میچن، څه ورشې څه غنم.

د مسجد سړی، په مسجد کښې لټوه.

د مسخرو آخر جنګ دی.

د مشکو بوی نه پټیږی.

د مکې لار په منډه نه خلاسیږی.

د ملخ ورور یې، نه خوارۀ ګورې نه ترخه.

د ملغلرې یو آب دی، چه لاړ شی، آب یې نه پاتې کیږی.

د مَلِک ترمخ او د غاترې تر شا مه تیریږه.

د ملک لور، په نامه غوښته کیږی.

د ملنګ کچکول پاتیږی، د پاچا پاچاهی.

د منګری سر په دښمن ټکوه.

د موچی خونه هسې خوسا وه، چې باران پرې وشو ډوزې یې ولاړې.

د مور زړه پر زوی، د زوی پر وچ کانې.

د مور غیږ، د زوی زانګو ده.

د مور یې شړی لنګ وګوره، د لور یې شرنګ پرنګ وګوره.

د مورِک څه غم دی، په ژرنده کښې یې کور دی!

د میرانې او سپیتانې، یو ګام تر منځ دی.

د میړو په مغزو کښې تل د تورې شرنګ وی.

د میړو پرده خدای کوی.

د میړو یو لاس په چاړه، بل په خواړه.

د میړه زوی سترګې غټې وی.

د میړه ژوند د تورې تر سیورې لاندې وی.

د میړه سیالی کوه، د بخت یې مه کوه.

د میړه یا خرڅ وی، یا ترڅ.

د میړیانو کور له غمه نه خلاسیږی.

د میلمه په بیړه، د کور به څه دی.

د میلمه بیګا مخ وی، سبا یې څټ.

د میلمه جواب، پیتی ده.

د میلمه میلمه بد ایسی، د کور به دواړه.

د مین کام، د شهادت جام دی.

د مینځی مات سر ته ګوري، د بی بی زړه ته نه ګوری.

د میو غوندې، په یو مخ کولیږی.

د نااهلو څخه پت مه غواړه.

د ناز خواړه یا تاوده وی، یا بلمنګه.

د ناست زمری نه، ګرځنده ګیدړ ښه دی.

د ناکَسه اشنایی، د خره سپارلی.

د ناوختې میلمه یې له مِلا خوری.

د نژدې ورته کتلای نه شم، د لرې یې پریښولای نه شم.

د نس پرسته لاندې، په څیله کښې تمامیږی.

د نشت نه موزی ښه دی، کټ پرې د ک وی.

د نغری غم څوک نشی ګلولای.

د ننګرهار له توپی نه سړی سر تور ښه دی.

د نورو نیمه، د انا یوه نیمه.

د نورو تلوار دی، ماته یې په ځمکه را واچوه.

د نوک پر ځای سوک منډی.

د نوی په هوس، زاړه یې کړه خس خس.

د نه زویه مینه نه ورکیږی، د سپی زویه مینه ورکیږی.

د نه میړو، ملک شوبلو.

دنیا بلبل دد، کله د یوه، کله د بل دد.

دنیا په دوو ستر گو خپله، په دوو پردی.

دنیا په دنیا ورځی.

دنیا باد دد باد به یې یوسی، د پاسه به اودل راشی تر قیامته په پر اوسی.

دنیا په امید خورله کیږی.

دنیا تر سر جار، سر تر ناموس جار.

دنیا خپله لری، روی پر عالم.

دنیا دارد چې دنیا دې ډیروله، سپین کفن دې یوور.

دغه نورد دې پر چا وزیر میله.

دنیا ډیریږی، زړه تنگیږی.

دنیا هغه ته معلومه دد، چې خنبه کړې یې دد.

دنیستی، هر ساعت مرگ دی.

د نیکانو له قدمه، بدان وو تل له غمه.

د نیمې ورځې حکومت د سلو کلو کور خرابوی.

د وادد نه وروسته سندرې څه په کار.

دوبی دخوار و غریب جامه ده.

د وچوله غمه، لانده سوځی.

دود له کندې خیژی.

دود ښایستو لره ځی. (۱)

دودونه هغه دود نه وی، چې دسخا پکښې رودونه وی.

دوران ، پر هر ګوروان.

د ورځې دتوتو په خورلو شرمیږی، دشپې یې له پچو سره خوری.

د ورور خور مې کې، محتاجه مې مه کې.

د ورور څخه ګټه، څو نه ګټه نه ده.

د ورور دې ورارد شو، د ورارد سره دې څه شو.

د ورور پورې ولاړ وې، دمنی ورځ وې ولاړې.

د وږی تر پام، سږی غوښې دی

د وږی سترګې، په دیګدان کښې وی.

دوست او دښمن په یوه سترګې ګوری.

دوست اشارې ته ګوری، او دښمن واړې ته.

دوست به دې وژړوی، دښمن به دې وخندوی.

دوست ته حال وایه، دښمن ته لاپه وهه.

دوست ته دومره تمه کوه، چې دلاسه یې کیږی.

دوست ته تشه پیاله، دښمن ته ډکه.

دوست دې کوم دی، چې سهار دې اور وینی مانښام دې کور.

---

(۱) - دامتل د کندهارو خوا دی.

دوست روزنه غواړی، دښمن ترتهنه.

دوست د سختی دپاره ښه دی.

دوستی د سلو کلو لار دده.

د وطن په قدر، مسافر ښه پوهیږی.

دولت له اتفاقه پیدا کیږی.

دولت د لاس خیرده ده.

دولت دې د ځان دی، عزت دې په جهان دی.

د ولې میوده لاس ته نه راځی.

دومره مه لوییږه، چې ما نه گورې.

دونه توپ وهه، چې د پښو و نه لویږې.

د ونې سل کاله عمر، د مرغی پرې یوه شپه.

دود به سره جوړ شی، که دریم یې ترمنځ نه وی.

دود پک، هغه هم سره دورک.

دود ورونه، هغه هم سره تربرونه.

دودورونه، دریم حساب.

دود که لامچان شی، د یوې بلا تمام شی.

دود گوتې مې توړې کړې، په تا خواړې مې پورې کړې.

دود لځ، په نه سره پتیږی.

دود لځ په حمام کښې ښه سره ایسی.

دود مرغان، یوه یې ځاله، خبر نه دی یو د بل له حاله.

دود وړی چن یوده وټ کښې بد سره وړی.

دوه غوایی چې ښکر په ښکر شی، زیان د بوتو کانړو دی.

دوه هندوانې په یوه لاس کښې نه نیولې کیږی.

د هر چا سره خپل سیورې مل دی.

دهر چا ښه، د خپل ځان ده.

د هر چا په سر کښې یود پیاله ښنګ دی.

دهر سړی پاسه، سړی.

دهر سړی آب، په خپل لاس کښې دی.

د هرشی خوند په مالګه ښه کیږی، د مالګې خوند به په څه ښه شی.

د هر شی جامه څیریږی، د ښه خوی جامه نه خړیږی، نه زړیږی.

دهغو تازیانو خولې تورې دی، چې ښکار کوی.

د هغه زغله چې یو وار هوکی، بیا نه.

دهغه مه بیریږه، چې له خدایه بیریږی.

دهغه وبیریږه، چې د خدایه نه بیریږی.

د هوښیارانو ویل، د کانې ښکل دی.

د هوښیار بلا دې ورکه وی.

د هوا مرغی شل د پیسې

د هیچا څراغ تر سهاره نه لګیږی.

د هیلې مخ تور دی.

د هیلی بچی ته لامبو مه زده کوه.

د یار ترخې خبرې، خوږې لګیږی.

د یار سره یاری کړه، په عیبو یې غرض مه کړه.

د یتیم اوښکې په خپله مور پاکیږی.

دیوال نم زړه وی، انسان غم.

دیوالونه هم غوږونه لری.

د یوې ونې لرګی ، څه لوی څه کمکی.

د یو ستوری نه، دوې پېچې ښې دی.

د یو زر تلاؤ نه، یو بخت ښه دی.

د یوه زیان، د بل تکیه.

د یوه سپاهی به څه دوړه وی.

د یوه لاسه تک نه خیژی.

د یوه مریی د سلو بادار.

د یوې ورځې حاکم، د شلو کالو کور خرابوی.

د یوې سپېرې د پاره، پوستین اور ته مه اچوه.

(ډ)

* ډال چې ګرزوی، ځان به ساتی.

ډاندوغ به یا وینې خوری ، یا سپینې.

ډبره چې پر ځای پرته وی، درنه وی.

ډبره د یتیم په سر لویږی.

ډبره یوه نیک مرغه، یوه بد مرغه.

ډبرې اړوې، لږم تری لاندې غواړې.

ډکه کاسه خامخا چړپیږی.

ډمان څلور کسه په څټه پسې تلل، مګر ذ بې کسی چیغې یې وهلې.

ډم چې ډول وهی، زور یې لری.

ډم خو مور شو، چې پاتې یې کور شو.

ډمه ګډیدلی نه شود، ویل یې ځمکه کږه ده.

ډوډی به خپله خوری، ستر ګې به دنورو پرې سرې وی.

ډوډی پردی ښوروا ته مه وړه کوه.

ډوډی خپله خوره، عقل له بله زده کوه.

ډوډی د نانوای ځنی، زړه د بټیاری چوی.

ډوډی د لوښې له مخې خوړله کیږی.

ډوډی زما خوری (۱) توتو د سلاخانې کوی.

ډوډی که د بل ده، نس خورې خپل دی.

ډول په بیه، کبر وړیا.

ډول په تیر اغږ پرې، ما مندی کور ګډیږی.

ډول سوری ګوته پکښې.

ډول یې د لیونی په لاس کښې ورکړ.

ډولونه مې تر خولې تیر دی، دا یې ډمبکی دی.

ډیر کار، ډیره ګټه.

ډیر مه وایه، چې لږ خیژی.

ډیر ویل د قرآن ښنه ده.

ډیره ګټه، دما یې سر خوری.

ډیر یې نه موندل، لږه یې نه خورل.

---

(۱) -کندهار د سیمې دی.

(د)

* راتگ په اراده، بیرته تگ په اجازه.

راست اوسه، پر لویه لار ناست اوسه.

راستی زوال نه لری.

راکه زما چوتی، بیزاره یم د ګټې.

ربنتیا ویل ترخه دی.

ربنتیا وایه، په کوچنی یې وایه.

ربنتیا که نه وایم، الله مې نیسی، که یې ووایم، عبدالله مې نیسی.

ربنتیا یا زورور وایی، یا لیونی.

راغلی پکښې کښیوتې، ډنډۀ پښکې پریوتې.

رغستلی (۱)، له منځه وتلی.

رمه ځکه له شپانه خوشې دد، له څښتن نه خو نه ده خوشې.

رنځوره آن دې تمام شو، چې لقمان پر تا نادان شو.

رنځونه د ګرمی، علاج یې د سردی.

رنګ دې د غله، ناستې دې پرځه.

رنګ مې ګوره، حال مې پوښته.

رنګ یې د ګُل، خوند یې د پیاز.

رنګ یې د ملا، عمل یې د بلا.

---

(۱) - ځینې پښتانه یې ورغستلی یې بولی.

رنګ يې مه ګوره، خوند يې ګوره.

رنګ يې د ګليګی، ولاړ د ګول پر ځای. (١)

روپی، روپی پيدا کوی.

روپی که کوچنی ده، کارونه غټ کوی.

روټه نه د کاله خوښيږی، نه د ميلمانه.

ورځ که يوه ده، وختونه يې ډير دی.

رود له ويالو خوريږی.

روزی چا په منډه نه ده نيولې.

روغ صورت نيمه پاچاهی دد.

روغ صورت نه پټيږی.

(ړ)

* ړانده ته شپه او ورځ يو شان دد.

ړانده ته دخولې لار معلومه دد.

ړانده ته مه ګډيږه، کانه ته ډول مه وهه.

ړوند په خپلو سترګو بينا دی.

ړوند په خپل کور ښه پوهيږی.

ړوند په ګوډ پورې خاندی.

ړوند په موږی هر دورځ نه لويږی.

---

(١)- يعنې رنګ د (خومی) مګر د لوی غوايی پر ځای کول (دسرو غنمو پر راشه).

ړوند خو ړوند یم، سترګو ته مې ولې ډکې راوړې.
ړوند څراغ څه کړی.
ړوند له خدایه څه غواړی، دوې سترګې.
ړوند یو واړي، امسا ورکوی.
ړومبی د وروستی پل دی.

(ز)

* زاړه ته یې ویل: مه څیریږه، ده ویل: مه غږیږه.
زاړه ته یې ویل مه څیریږه، ده ویل مه غږیږه.
زامن خوارږه دی، غشی یې کارږه دی.
زر پر غرد لار جوړوی.
زر تر سبز کال، پر کال قدر من وی.
زر چې وی، زاری د څه دد.
زر چې پاک وی، له اوره یې څه باک وی.
زر زر گرتهولوی، خبرې درویز گر تهولوی.
زرگر غولولی، په شلم کال پوهیږی.
زر که سبز خوارږه دی، کال ته هم خوارږه دی.
زرغونه به لنگیږی، احمد شاه به ځنې زیږی.
زرښنده چې میرشی، چې میر شوې بیا زرډیر دی.
زرد بوډی پر خر د سپره، چارتار وهی.

زړه بودی او دوکاته څنې.
زړه په خوله بدیږی.
زړه چې مین شی بنایست نه غواړی، خوب چې ورشی بالنبت نه غواړی.
زړه د مینې کوردی.
زړه زړه ته لار لری.
زړه شوم، پاکیزه شوم.
زړور یو وخت مری، او بې زړه تل.
زړه هینداره ده.
زړه یې بنه که، کار پرې وکه.
زړې خبرې، نوی توبرې.
زلفې سنبل، نس مې پر بل.
زلفې دخیاله زنگیدې، باد پرې بدنام شو.
زما بنه شی، ستا گنده شی.
زما هله هله ازلی برخه مې کړه ترچاپیره.
زما پوردې پر کارگه وی، دکارگه مرگی دې نه وی.
زما دې خواست ورک شی، ستا دې داد.
زما زویه، ترما لویه.
زما غوږی ستا پر کورتو لویږی،...
زما یوې روپی، زه دې خال کړم که اوږی.
زما نه منی، د خره منې.
زور چې قدم کیږدی، عقل هلته ریږدی.
زور چې زورور شی، عقل مرور شی.

زور چې راشی، دحساب ملا ماتوی.

زور چې له بخته جلاوی، په بدو مبتلا وی.

زور چې پرې ورشی، عقل لرو برشی.

زور چې زور ورشی، پتی له تخمه سره خپل شی.

زور ته پوله نشته.

زور خو زور، چل هم د زوره کم نه دی.

زورور دې تر پام کمزوری مه شه.

زورور غویی، دغولی منځ نیسی.

زور یې د ملخ ترا پی پر مخ.

زور پیوند وه، برینډ به نه شی.

زور غل په خپل اولس کښې غلا نه کوی.

زور غویی کونجاړه په خوب کښې وینی.

زور که بار نشی وړای، لار وړای شی.

زوم نه باله شی، نه شاړه شی.

زوم یې د خوسر له نغری اخلی.

زوی چې و نه ژاړی، مور تی نه ورکوی.

زوی ته اړ گوره، لور ته لور گوره.

زوی ته دمور په سترگه گوره.

زوی مې را ملا کړه، کډې مې ولاړې.

زویی په بنه دې غواړم، د ځان د بنې د پاره.

زوی یې غوښت، خیر یې نه غوښت.

زهر څه‌خروار خورلی، څه‌مثقال.

زداو ته‌له یوه‌اسله، زه‌نو ولي‌شوم‌کم‌اسله.

زد او ته‌راضی، څه به وکاندی قاضی.

زد به څه‌کوم راتور، چې غومبر وهی په زور.

زه‌پر تا، او ته خطا.

زه پور غواړم، ته‌نور غواړې.

زه پوهیږم او خپله‌بنی.

زه په‌تمه، ته‌بې غمه.

زه تر تا جار، ته پر ما.

زه چې‌ستا سپیرې خولې ته‌گورم، رنگ‌دی‌د یتیم را معلومیږی.

زه ځان خورم تا له، ته څاکینې ما له.

زه‌د ابی مزدوره، ابی د کلی مزدوره.

زه‌دې‌باغ‌نه‌وینم، ته‌وایې تارو درغی.

زه‌یې‌په‌پیری شک‌لرم، ته‌ورته‌مریدان نیسې.

زه دې‌پر مړی‌ژاړم، ته‌مې‌په خوله پورې‌خاندې.

زه‌دې پوزه‌غوڅوم، ته‌پیروان غواړې.

زه دې حق نه‌گنیم، ته‌وایې چې‌درانه یې‌وتله.

زه‌دې نه‌کرم، ته شین کیږې.

زه دې ورانه‌منم، ته‌سپرلو راته‌ویی.

زه‌چې ستا بر منگ‌وم، ونه دلونگ‌وم.

زه‌زړه‌ورورم، دی سیخ راوړی.

زه ستا دارو ، ته‌زما دارو.

زه ساده ، ته‌حرام زاده.

زه گوزم تا ته، ته‌گوري‌ماته، کارشو ترمنځ پاته.

زه وايم اوږه نشته، ته وايې پتيرى پخې کړه.

زه‌يم‌ستا د غاړې، ته‌له ما څخه سپيرکى غواړې.

(ژ)

* ژاولې چخونيا شوې، نه‌دتا شوې ، نه‌دما شوې.

ژرندداو جومات نه‌پيژني.

ژبه‌لنده لنبته‌ده.

ژر مه‌گډيږه، چې‌سپک نه‌شى.

ژرنده‌پوه‌چل گرزى.

ژرنده چې بار نه لرى، په څه به‌گرزى.

ژرنده گډى‌خداى خوار کړى، څټه‌پرته‌او مزد خورلى.

ژرنده که‌د پلار ده، هم‌په‌وار ده.

ژرنده که‌هر څومره گړندى شى، لاندغنم نه‌اوړه کوى.

ژرنده وگرزى، چې‌اوړه وکړى.

ژرنده ماته شوه، تکنيکى يې لا نښورى.

ژرا هم دزړه زور غواړى.

ژمى کله‌وى، چې‌باد باران‌وى.

ژمی دې تود مه شه، دوبی دې سوړ.

ژمی د خوار او غریب زیان دی.

ژوند دې ورک شه له مرګه بتر.

ژوند یې ګران، مرګ یې ګران.

(ب)

* بڼغ د مُلا، امین د کلی.

بیره زما، واک یې د مُلا.

(س)

* ساپی سم سمکې.

سپر هغه ګرزوی، چې تورو ته اوږه سموی.

سپما سپما، نه له ادې نه له ابا.

سپمولی، سپو خورلی.

سپنسی، په نری ځای شکیږی.

سپور د پیاده له حاله څه خبر دی.

سپور خور، خاوړې خور.

سپی په هډو کی نه خوږیږی.

سپی چې څومره غاپی، هومره نه تراپی.

سپی چې ایسارشی، یا .... یا غاپی.

سپی چې گرزوی، په هډوکی یې وله.

سپی چې غاپی، څه وینی.

سپی خپل بادار بنه پیژنی.

سپی د پیل په سیوري کښې ته، ویل یې دا سیوري زما دی.

سپی دې هغه وخورد، چې پیژنی دې.

سپی ډیر د ځان د پاره غاپی، لږ د کور د پاره.

سپی غاپی، کاروان تیریږی.

سپی کور په کور اخته وی، خوار فقیر ته یې یودوی.

سپی که هر څومرد بد شی، بیا هم د چنبتن کور ساتی.

سپی هډوکې خوری، ځان ته یې نه انګیری؟

سپی یې وهه، چې خاوند یې وویږی.

سپی یې د کورد په زغاسته تیریږی.

سپین تکی دهرچا خوښ دی، مګر د پیشو ورپسې کښې لویږی.

سپین غر بې واورې نه وی.

سپین ویل یا لیونی کوی یا زورور.

سپین والی د زړه بنه دی، نه د وینښتو.

سپین وینښته د مرګ استازی دی.

سپینه ورول کا، تورد ویرول کا.

سپینه وایه چغه شه، د چا د مخه.

سپین پګړی سړیو ته، بنځو په سر کړې دی.

ستا څه کمی دی، چې په لاس دې سور غمی دی.

ستا دا به خورو، زما دا به ساتو.

ستا يې وانښ، زما يې غاړه.

سترګې پټوده، شمکی (۱) تیروده.

سترګې په بنو نه دریږی.

سترګې د سترګو شرمیږی.

سترګه ړنده بنه ده، نه لار کورد.

ستړو وګټل، هوساوو، وځټل.

سخ دهغه چا، چې غم يې پر بل چا.

سخت ساعت، یو ساعت.

سخوندر د موږی په زور غورځی.

سر ښیرد بنوی، دننه گربینی.

سر په خپلو وینبتانو نه درنیږی.

سر ټرلی، من خورلی.

سر چې د شال وړ وی، له کشمیره ورته راځی.

سر چې بې جنجاله شی، کلپو شی.

سر څه په یو د لوتې نه پیږد، څه په لسو.

سر خریلی بنه دی، نه میړه شړلی.

سر د میږی، جنګ د مینده غوایی.

سر دې اسمان ته رسیږی او عقل دې تر پښو لاندې دی.

---

(۱)- شمکی یو تریخ بوتی دی، چې اوبه يې د تبې د پاره دوا دد.

سر مې ګاټه، غوږ مې بايلود.
سر مې لوړ دی، چې بابا مې په لنبکر دی.
سړی کسه، جامه پرې نيسه.
سړی غرونه دی، بنځې يې ارمونه.
سړی يو نور، جامه يې بل نور.
سک چې توره وباسی، بې واره نه وی، غنم چې وړی وباسی، بې باره نه وی.
سلام يې نه اچاوه چې وايی چا وه پر ..... وخوت.
سل جادوګر، يو غيبت ګر نه دی سره برابر.
سل خويونه نور کړی، يو به د مور مور کړی.
سل دې تنورونه دی، يو موتی دې اوړه نشته.
سل ددې مووه وای، پر مور دی وای.
سل دې ومړه، يو دی مه ږمړه.
سل ډ زرګر، يو د ګګر (آهنګر).
سل د پور يوه ايکی دکور برابر نه دی.
سل روپۍ پور که، زوی په بازار لوی که.
سل روپۍ پور که، داختر شپه په کور که.
سل کاله د ونې، يوه شپه د مرغی.
سل کاله بندی و ای، خوسا يې د ژوندی وای.
سل کسه هندوان وو، بدرګه يې لا نوره غوښته.
سل مړی پر دې کوی، يو مړی نخرې کوی.

سل منې خوړه، یوه به دې زهر شی.

سل یې ګوری، یو یې غواړی.

سل یې مړه کړه، لا یې بدی نه بولی.

سلواغه هره ورځ په څا کښې نه لویږی.

سود په لاس، پیسې ترکاله.

سور دی سوریدلی، تراوو ګنو وتلی.

سور سپی، د سور لنډی ورور دی.

سوی چې بار سی، بار یې څه وی.

سوی چې خروړی شی، څوک به وخوری.

سوی دخاوند وی، سپی هسې منډې وهی.

سیالی مې د خانانو سره کړه، کور مې ویران شو.

سیال مې یې، مخې مې نه یې.

سیر خورم، مثقال ګټم، بی بی اوسم، که درځم.

سیلاب لوی کانې رغړوی، کمکی پر خپل ځای پریږدی.

سینه دې دریاب که، خوله دې بیړی.

سین په وښو نه بندیږی.

* * * * *

(ش)

شپه بَه وی، یاران به نه‌وی.
شپه که تیاره ده، منې په شمار دی.
شپه یوه ده، غله یې ډیر دی.
شپې ورځې لکه دارهټ منګوتی کله غم راوړی کله ښادی.
شپنی د لیوه کار نه‌دی.
شرچې غواړې، پرې پیښ به‌شی.
شرع زړه منی، که خوله.
شرع ښه ده، د ښو میړو په ښه ده.
شرع ظاهر ګوری.
شرم په‌سترګو کښې دی.
شرم د ایمان پوښ دی.
شرم د بدې چارې، ښه دی.
شرم دهغو وساتی، چې په شرم پوهیږی.
شرم مې کوت، بیخ مې خوت.
شرمښ څه غواړی؟ باد و باران.
شرمښ هغه میړه وړی، چې له رمې څخه جلا وی.
شرمښکی د مارسره غزیده، پر منځ وشلیده.
شړی سړی، په مکه کښې آرام نه لری.
شکونې که حلال دی، رنګ یې د مردار دی.

شلومبې او ښوروا د بې خونده سړی لږ پرې.
شلومبې وړه، مستې راوړه.
شنې په غلا نه چیچل کیږی.
شنې که آسانه وای، سپرو به پلو ته نه ورکولای.
شوده راوړه شلومبې وړه، کور دې خپل دی.
شولې په یوه ټک نه سپنیږی.
شولې مې دې شډلې وی، خو د سیال سره مې دې سمې وی.
شیخ پریده، خوله پټه بهتره ده.
شیطان ته یې ویل خاورې خورې، ویل یې چې غوږی ږسره وی.

(ښ)

ښادی دریاندې غم دی، چې په تاپسې لږم دی.
ښادی د یاری، غم د وراړې.
ښار په نرمه ژبه خوږ کیږی، نه په کلک کوتک.
ښایسته په سلو کښې یو وی.
ښایسته ګل ته دهر چا تلوسه وی.
ښایسته مخ د خوږو زړو مرهم دی.
ښځه په کور ښه ایسی، ژرنده په شور.
ښځه چې زړه شی، خوله یې پسته شی.
ښځه د تن جامه ده.

بنځه‌د میړه په خوښه ده، نه د کلی.

بنځه‌د بنامار جنګ ته تیاره ده.

بنځه کړه پښتی ده، ماته به‌یې کې، سمه‌به یې نه کې.(۱)

بنځه که‌هر څومره بنه ده، د سړی ځای نه شی نیولە.

بنځه یا په‌کور، یا پر ګور.

بنځه‌مې دې نجل‌وی‌او زامن‌مې دې سل‌وی.

بنکار تازی وکړ، خوشالی کوتې(۲) کوی.

بنویې جامې، شوې درنې.

بنه‌انګور چغال هم‌خوری.

بنه، اویه هم نه وړی.

بنه یاران پر ناوه معلومیږی.

بنه به دې‌د بنو کړم، بد مې‌چې‌دمور زوی شی څه به‌یې سود کړم.

بنه‌به‌دې‌لور کړی، بد به‌دې ځور کړی.

بنه‌په‌بدو هم‌معلومیږی.

بنه‌په‌بنه‌سړی کړه، یا به‌یې‌درکړی‌یا به‌دې یاد په‌بنه‌نامه کړی.

بنه پردې دنیا وی.

بنه‌پر دنیا کینه، پر عُقبی توښه‌ده.

بنه پرچا نه‌ورکیږی.

بنه‌پر بدو، د میړو کار دی.

---

(۱)- مطلب‌تر‌یې ناپوهه بنځه ده.

(۲)- کوتې‌پسې چې د بنکار او منډی نه‌وی.

بنه په بنه دی، بد په بد.

بنه جالوان د طوفان په ورځ معلومیږی.

بنه چې څوک پیژنی، بد به ولې کوی.

بنه چې یاد کړې، نو یې برباد کړې.

بنه حال به دې سودمن کی، بد حال به دې هم پک، هم پمن کی.

بنه، خپل ځان ته بنه راولی.

بنه خدای بنه بللی دی.

بنه خدایه زوروره! مور مه کړه د مور مزدوره.

بنه خوی به دې سلطان کړی، بد خوی به دې حیوان کړی.

بنه خوی، د سړی کانړه ده.

بنه دوست په بد ځای کښې معلومیږی.

بنه دې د نورو، بد دې زما.

بنه د خپل وی، چې تل ترتل وی.

بنه دې هم د میړه، بد دی هم د میړه.

بنه د هغه چا سره خوند کوی، چې پرې پوهیږی.

بنه، زوال نه لری.

بنه ژبه، د خزانې کونجی ده.

بنه، بنه دی، بد بد.

بنه عمل، دلارې ښه.

بنه کړی خورې بنه کړی چې زما له کوړی یې کاږې، بیا یې بیرته راته پاخه کړی.

بښه کوه، بد مه کوه.
بښه کوه، له پاچا مه بيريږه.
بښه کوه چې بد نه وينې.
بښه ميره، له مور نه زياته وی.
بښه مې غواړه، بښه به دې غواړم.
بښه وکه، په تاخچه کښې يې کښيږده، يوه ورځ په دې پکار شی.

(ص)

صبر که تريخ دی، ميوه يې خوږه ده.
صبر درنه برخه لری.
صبر د ميړو لوی هنر دی.
صفره ووته، بلا ووته.
صورت يې غټ، په کار کښې لټ.

(ط)

طبيب هغه دی، چې رنځ پرې تير وی.
طبيب که طبيب شي، خپل سر به دوا کوي.

(ع)

عاشق سر نه لری، غم د لنبکر نه لری.

عاشق تل لوڅن وی.

عاصی پوهیږی او دوزخ یې پوهیږی.

عاقلان بدی ورکوی، بې عقلان په بدو ځان اخته کوی.

عاقل به ځان ناپوه بولی، بې عقل ځان پوه بولی.

عاقل پر مخ ځی، ترشا ګوری.

عزیز د خدای نوم دی.(۱)

عشق او مُشک نه پټیږی.

عشق یې چې پټ که، ځان یې ست که.

عقل په سر دی، نه په کال.

عقل په پیسو نه اخیستل کیږی.

عقل چې یې کم وی، پر کوربه یې تل غم وی.

عقل د عزت ورور دی، که عقل لری عزت یې پور دی.

عقل عقلمندی غواړی، هنر هنرمندی غواړی.

عقل که نه لری څه نه لری، عقل که لری، هر څه لری.

عقل که څوک مومی، دولت کور لره ور درومی.

---

(۱)- دا متل د عزیز ولی ارقام ولی دستاینې په ځای کښې استعمالیږی. مطلب دا دی، چې قومی عزیز ډیر ښه ده، ځکه چې عزیز د خدای نوم دی.

(غ)

غاتري ته يې ويل: پلار دی څوک دی؟ ويل: آس غوندې مامالرم.
غټه ګوله کومی څيری.
غټې سترګې ځان وينی، وړې سترګې جهان.
غربه در په شا کړم، توان به دې پيدا کړم.
غر په غره نه ورځی، سړی په سړی ورځی.
غر که لوی دی، په سر يې لار ده.
غر په پر پټوی.
غر ولاړ، غشی يې يووړ.
غريب هندو دی، چې ايمان نه لری.(۱)
غريب سړی او برګ سپی.
غريب ته يوه ګيډه مستی پسرلی دی.
غری زمريان ماتوی، غوښې ګيډو خوری.
غړ که شار بی په دربی، کوچ يې خوری تورد پشی.
غړ که هر څوچې شاربل کيږی، کوچ کوی.
غړی، دغوريو شی.
غلا کړه، بلا دې پر ما کړه.
غلا مه کوه، له هيڅا مه بيريږه.

---

(۱)- په داسې حال کښې چې يو سړی ځان ته غريب وايی يا بل څوک ورته غريب ووايی، نو دی وايی چې غريب خو هندو دی، چې ايمان نه لری.

غل اوسه، په انصاف اوسه.

غلبیل ولاړ شو، کوزی ته يې ويل په تا کښې دوه سوری دی.

غل په غلا نه شرميږی، ته يې په نيولو شرميږی.

غل په غوجل کښې پتيږی.

غل تر کوره پوری مه شړه.

غل چې غلا ته ځی، قسم په شاګرز وی.

غله څه غواړی، د ځان مله غواړی.

غل غل پيژنی.

غل که نه تښتی، مل دې وتښتی.

غل که هوښيار دی، قافله والا بيدار دی.

غل له خپل سيوری څخه ويريږی.

غل له خپل ترپ نه هم وبيريږی.

غل له څوکی ډاريږی.

غل هم وايی خدايه، مل هم وايی خدايه.

غل يو، لاړې يې ډبرې.

غلو سل کورونه وران کړل، خپل يې ودان نه کړ.

غلو به قافلې وهلې، نونه چې کوتې يې وهلې.

غله دری وهی، بدبختی پلی وهی.

غله کورونه وهی، بدبخت زورونه وهی.

غليم چې ژوبل وی، دوستان به ډير وی.

غليم که دې د سر وی، تر خپل منافق بهتر وی.

غم‌بد دی غمجن بد دی، دوست غوارم دښمن بد دی.
غم‌دی د لالی په سرمسته‌دې تازه گرزی.
غم له‌غمه‌نه شرمیږی، پرون ابی مړه‌وه، نن تووره چرگه.
غنم یې لاپاخه نه‌دی، ژرنده کښې یې اوس وار نیسی.
غوا که تووره ده، پی یې سپینې دی.
غوایی حلال نه دی، ښانک په‌سر گرزوی.
غوایی چې‌سره ښکر په ښکرشی، زیار د بوټواو کانړو دی.
غوټه چې په لاس خلاسیږی، په غاښو یې مه‌خلاسوه.
غوړ پر غوړو تویږی.
غوړی په گوتی، اوړه په موټی.
غوړی د زیړې غوا، کوچ د سپینې غوا.
غوړی چې ډیر شی، څوک ځان نه‌پرې غوړوی.
غوړی لا غوړ.
غوړی یې گاټه، سر یې بایلود.
غوښتو پلمه غوښته د بنی خوله وخته.
غوښې چې پر قصاب ارزانه شی، پر جهان ارزانه شی.
غوښې خانانو وخوړلې، پر هلړو کو یې سپی جنگ کوی.
غوښه که‌وسوځی هم له پیتونه‌ښه ده.
غوښې دهرچا خوښې دی، مگر پیشی ایمان پرې راوړی دی.
غوښه‌د د هرچا خوښه ده، خو د پیشو ورپسې کسی لویږی.
غوښې دې هغه خوری، چې توری وهی.

غول خوری، منبوکه څنډی.

غونډی ګلیګی تشوی، جوالونه کوچنی تشوی.

غویی دی چې په وندری لوی شو، غابنونه یې مه ګوره.

غویی چې زور شی، په خوب کښې کونجاړه وینی.

غویی د بزګر ملاتړ دی.

غیرانو نه چې پرخره باندې شی، نوم یې غیرت خان شی.

(ف)

فقیرانو ته کوڅې مه ښیه.

فقیر ته یوور پورې، سل ورونه پرانستی.

فقیره کور دې چیری دی، ویل: هر چیرې.

فقیری بې مکره نه کیږی.

فقیر خو فقیر یم، کچکول مې میین دی.

فیل په مالګه څه پوهیږی.

فیل چې مړ شی هم په نس کښې یو زنګون اویه ولاړ وی.

فیل چې ژوندی وی، یو لک چې مړ شی دوه لکه.(۱)

---

(۱)-د فیل غابنونه ډیر قیمت لری، نو ځکه یې پس له مرګه قیمت زیاتیږی.

(ق)

قابلیت د لمر سترګه ده.

قاضی ملامتولم، زه نه ملامتیدم.

قام له قامه نه بیلیږی.

قدیمی یار، زین کړی اس دی.

قربان له خپله کوره، چې خبرې شی په زوره.

قصابان چې ډیر شی، غوا مرداریږی.

قصاب قصابی کوله، یتیم شپه ورته تیره کړه.

قلم یې چې جاری شی، مور پلار یې راضی شی.

قنداو کورت، په یوه نرخ دی.

قول یې چې خطا وی، په قرآن به یې څه ویسا وی.

قیاس انا کاوه، چې ملایې غوټه ماته شوه.

قیاس بابا کاوه، مرکنډی یې ماته شوه.

(ك)

کار اسان دی، پیل یې ګران دی.

کادانه خوسیان خلاسوی، کندوان کوچینیان.

کار نه ده سسته پسته، خوراک ته ده تندرسته.

کار د بابا، خوراک د لالا.

کار زده کړی ښه دی، دښمن وژنی.

کار کوه خدای یادوه.
کارګه‌ویل زما سپین ککیه زیوه زیزګی‌ویل زما پستکیه زویه.
کارګه مرداره خوری منبوکه څنډی.
کارګه غونډې هوښیار دی.
کارګه دزرکې تګ زده کاوه، خپل یې هیر شو.
کارګه په پسرلی څه‌خبر دی.
کارګه ته کنډر هم باغ دی.
کارګه‌له‌اصله توردی، سپین به‌نه شی.
کاروان په باج نه ورکیږی.
کاروان تیریږی، سپی غپیږی.
کاروان بندیږی، دخلکو خولې نه‌ټړل کیږی.
کارونه ازلی دی، نه په‌زور نه‌په‌زاری دی.
کار مې د بل خوښ، خوراک مې دخپل.
کار مې له لاسه‌واخله، کب مې له‌خولې.
کارګر کور مړوی، لټ مور ژړوی.
کاړه بارونه، خدای سموی.
کاسه په‌کاسه ده، کړده په‌کړده ده.
کاسه‌چې په‌کاسه‌شی، دخدای وجه‌به‌څه‌شی.
کال به‌داوی، شپې به‌نورې.
کال دکاختې دی، شامت د بوډې دی.
کال دې په‌لکړه تیر کړ، که په‌ککړه.(١)
کالی چې اوبو یووړه، څوباړې ما ورپسې خوشې کړ.
کام پسې، ناکام دی.

(١)- له لکړی نه‌مطلب ګدایی‌او له ککړې نه ختمی او مُزدوری ده.

کام کام ته ځی، اوبه خپل مقام ته ځی.
کام کام لره ځی، وریجی لغمان لره ځی.
کامه يې لوټ کړه، بيړاگان اوس خبر پرې. (۱)
کانې به پوست نه شی، دښمن به دوست نه شی.
کانې د يتيم په سر لويږی.
کبر .... کاوه، خوار يې پښتون کړ.
کبرجن د خدای دښمن دی.
کتابونه دريابونه دی.
کټ دې ستړې کړ، چې پاتې منا (۲) شوه.
کټوه چې په سر رانه شی، نه تويیږی.
کټوری که مات نه شو، ازانګه يې ولاړه.
کټوې کولال جوړوی، نيټ يې مريې بدوی.
کنچنی ته ويل چې يار دې مړ شو، دی ويل: د کومې کوڅې؟
کراسته داسې ځای خرڅوه، چې پرې کښينې.
کربونی، سړه بولی.
کرميه غم نه ؤ غم دې راوړ.
کری اوربشې، غواړې غنم.
کړې وړې چاره، يو آس غواړی دری ناله.
کږدی په خپلو مراندو ولاړه دده.
کږې چارې په خدای سميږی.

---

(۱)- دا متل په ننګرهار کښې ويل کيږی.
(۲)- په ونه کښې اوچت ځپر ته وايی.

کشتی، په نیت چلیږی.
کلا ټولې، بلا ټولې.
کلپې روپی، په زرګر نه چلیږی.
کله دریاب، کله کریاب.
کله وار د ابا، کله وار د ادې.
کلی دې ودان وی، لیوان دې پرې روان وی.
کلی په مشر، ممبر په ملا بنه بنکاری.
کلی کور به اور اوخیست، پیغلو ناوو به غږ نه کړ.
کمال زده که، په تاخچه کښې یې کښیږده.
کم اصل چې بسیا شی، عقل یې خطا شی.
کم بخت سړی به د پردی خیرات سرخان وی.
کمبختې بنځې په کال کښې دوه واره لنګیږی.
کمیس مې روغ کړ په بخی، خیال مې خپل ګوتې پردی.
کنز (۱) خوهر څه وایی، که یې څوک ومنی.
کوتک وهه د ورور دپاره، خبرې کوه د خدای دپاره.
کوتری دی، یو له بل بهتری دی.
کوټ کوټ دلته لرې، هګی هلته اچوې.
کوټه وسوه، دیوالونه یې پاخه شول.
کورټ او غوړی وای، ناست ورته مړنی وای.
کورت دې وی غوړی دې وی، په منت او په سوتی دې وی.

---

(۱)-د فقې یو کتاب دی.

کور دمغو گران وی، چې ګنلی يې په ایمان وی.
کور د ماما دی، لاس منډه ګورې را باسه.
کور کښې دې جواری نشته، له دماغه دې د پلو بوی ځی.
کور دې لرې، کوڅه دې نژدې.
کور چې سړه کور شی، د کلی مخې شی، کلی چې سړه کلی شی د ولس مخې شی.
کور مې در جار کړی، تروړ د باندې.
کور مې دې تالا شی، بول مې دې بالا شی.
کوروډان، د ورور ودان.
کوزده له کوره وکړه، وادده له پوره وکړه.
کوږ بار تر مزله نه رسیږی.
کوږ لرګی په بار کښې نه تړل کیږی.
کولالې، وکړه خپله سیاله.
کونډه هم ژاړی، رنډه هم ژاړی، برنې راوړی په ناورین ژاړی.
کونډه د لیورد په تمه، د میړه ووته.
کونډه چې سترګې تورې کړی، میړه به وکړی.
کونډه چې د میړه په تمه شوه، له وږو تولولو ووته.
کونډ دود وارد خاندی.
کوم شی چې نه پایی، زړه تړل پرې نه ښایي.
که آغا مرې که بې بې، زما دې وي پخه ډوډی.
که باران وي که ږلی، مبلمه غواړي ښه مړی.

که باغ خراپوي، اَلو پکنبي ږدد.
که باخوړ نه‌خوري، بد پري مه وايه.
که يې څنبتنه ډبربدای، دغرو غر څه به ډيروای.
که پورته گورم پاڼ دی، که‌ښکته گورم پرانگ دی.
که يرتا واوری، پرما به وځاځي.
که په‌خپل وطن کښې خان‌يې، پر بل وطن اريان يې.
که په‌ژړا ژوندی کېدای، مړي به‌ژوندي شوی وای.
که‌په سبا ناری دې ښاد شوم، غر مې ته‌به دې هم پاتې شم.
که پيل په پيسه شي، چې پيه نه‌وي څه‌يې کوم.
که پيو ته دې زړه کړي، غوا واخله.
که‌تاويل ته‌يې، ماويل ته‌يې، هم به‌زديم هم به ته يې !
که ته تل‌لوونه وي ځوانان به نه‌وي، که تل غويلو نه وي غوايان به نه‌وي.
که تورد دې لنډه دد، قدم ورواخله.
که ته‌کړي سمې چارې، تا به څوک باسي د لارې.
که ته‌غر يې، زد غونډی، که ته‌مار يې، زدلنډی.
که‌ته مړې، هم ما خوبه وړې.
که ته‌کتوی يې، زد دې برغولی.
که ته‌نازو شې، نو ميرخان به‌څوک زيږوي.(۱)
که‌ته تګ يې، زد تګ مار.

(۱)-اشاره وحاجي‌ميرويس نيکه ته‌شوې ود.

که ټوله دنیا اوبه ونیسي، دا ښلی تر پرکی پوري وی.

که جنګ نه کوي، لکی خو دینګه ونیسه.

که څوک نه شرمیږي، څوک به یې وشرموي.

که څه وایي، څه به وواوري.

که ځان په عذابوي، له بې عقل سره اشنایي کود.

که ځان وژني زرد که خوره، که زرد که وژني اوبه پسې چیښنه.(۱)

که ځغلی له جنجاله، نو تاک مه ږدد بې ډبواله.

که خاني غواړي، دیر ته لاړ شه. (۲)

که خاوري اخلی، نو له لوی ډبران یې اخله.

که خرڅوری مې زاړه دي، هډوکی مې درانه دي.

که خرد یې نه وړی، په کوتی یې بار کړه.

که داغوا مړه شي هم به تا وړه شي.

که د بیدیا کانې پاسته وای، ګبډرانو په وهم نه‌وای پرې اینبی.

که دنیا ډبره شی، آخر به تیره شي.

که د سرکار دکوره تیل درکړه شی، لمن ورته نیسه.

که دې په ښو یاوډل، په ښو به یاد شی.

که د فصل خواریم، د اصل خوار نه یم.

که دېګ د سر وشي، ښخ یې د مسو دی.

که د سهار ورک مابنام کورته راشی، ورک نه دی.

---

(۱)- معنوا دي، چې اوبه د زرد کی نفخ لرې کوي.

(۲)- ږه په پښتونستان کښې یو ریاست دي.

که دښمن ګيډې وي، تا به ورنه د زمري نيسه.
که دومړد بادر واى، نوم به دې فتح خان ؤ.
که دښمن دې هر څومره خوارشى، قوي بې بوله.
که د کاله‌رنګ بديږي، د مېلمه هم بديږي.
که‌روزي په عقل واى، بې عقل به له‌لورې مړ ؤ.
که‌زه نه وايم، دا ګوډه پښه مې وايي.
که‌زور په بازو نلرى، زر په ترازو نلرى.
که سارد دي، په تول ښاره دي.
که‌زمرى وږى پاتې شى، د ګيدړى پاتې شونې نه‌خورى.
که سرغواړې، سرمه پاشه.
که سړي وزګار وى ، د کوچنى خوشحالول ګران نه‌دى.
که‌سل کاله ژوندي يې، عاقبت د ګور بنده يې.
که سيند لوى دى، خو د سپى ورته‌ژبــه ورورل دى.
که غاپې نه، څک خواوسه.
که‌غرلوي‌دي ، په سر بې‌لاردده.
که‌غوا راغله په پى، که نه‌راغله پر دى.
که‌کښېنستې خوله پټه، په‌لاس به رانه وړى هېڅ ګټه.
که کښته توکړم ږيره ده، که پورته توکړم بريت دى.
که کښود خوتېږي، خپلې شونډې سوځى.
که‌لاړ شې تر بلخه ، درسره ده خپله برخه.
که لعل هر څومرد خراب‌شي، له جسو ښه دى.
که ما چارد درلودای، سر به‌مې ولې داسې بيږ واى.

که ما وپوښتې، ته به وتښتې.
که مړی خبرې کولی، نو ولې به مړو.
که مېلمه یې، شوټ خو نه بې.
که مځکه توله اوربشې شی، دخرد پکښې لپه دد.
که مشر مشرتوب غواړي، کشر هم ددنیا دود غواړی.
که مرګ غواړې، کندوز ته لاړشه.(۱)
که نه پوهېږې، ځوان مال اخله.
که نه مرې، آخر به ومړی.
که نړۍ ودانه دد، په مړی قیامت دی.
که والوزې مرغه شې، دنصیبه به تېر نه شی.
که ورور شوې درور شوې، که نه ورځه د خواري خواری اور شه.
که ورور دی، په مخه دې ګور دی.
که وږې یم، سړی لا نه خورم.
که ورځ د زورور دد، شپه د کمزورې دد.
که هرڅو هوښیار بې، نادان پوښته.
که هرې ښځې میرخان زېږولای، نو میرخان به ولې پادبدای.
که هېن کړی که پېن کړی، دا پتې به شین کړی.
که یار نادان وی، نو کار ګران وی.

((((* * * * * *))))

(۱)-دامثل د هغه زمان دی، چې کندوز له شاړو ځمکو او ځنګلونو څخه ډک وو. اوس کندوز ښه ودان دی او د مرګ په ځای پکښې ژوند راغلی دی.

(گ)

گامینبه د گُل په بوی څه پوهېږی.

گنبه بې ستړیا نه کېږی.

گنبه په تاوان کېږی.

گنبه په سړ سینه کېږی.

گنې تر گنې لاندې دی.

گنې د اروا وو دی.

گنې دې لالا کوی، مړې دې عبدالله وهی.

گرگه بل علاج دې نشته، بې له مرگه.

گرگه چې زړېږی، اور پرې لگېږی.

گړنگ یې څښبده، چې خدای وکړه ستا یې څه.

گلاب په بوتی کښې ښه ښکارېږی.

گُل د کدو گُل گورد، بو پورته کوه تړې لاندې بل گورد.

گُل له گُل سره ښه ښکارېږی.

گُل چې دماخی وی، هم ښه دی.

گیلگـی د موړې، په زور غورځی.

گنجی که ډاکټر وای، د خپل سر علاج به یې کړې ؤ.

گور که گران دی، خو د سړی ناکام دی.

گورد چې اوښ پر کوم ارخ څملی.

گومل که وچ دی، رود يې بهېږی.

گيډه چې څه پيدا نه کړی، څکولی (۱) پتوی.

گيډه د اوبن په سيوري تله، ويل يې دا زما دی.

گيډې ته خپل پوست بلا دی.

گيډه تر هغې دی ښادی ده، چې څو نمر نه دی ختلی.

گيډې ستر گې پټې کړې، سپی ونيوله.

گيلانه څه بلا شوې، چې د لوی و کم د خندا شوې.

گيله له خپله کيږی.

گيله له ناره ده، نه له ماره.

(((* * * * * *)))

(۱)- څکولي بوډ توته وچ پوست ته ويل کيږي.

(ل)

لار په مزله لنډېږی.

لار مینډلې، مامی پرې تللی.

لار وهه، د خدای لار گوره.

لاس چې مات شی، غاړې ته ځی (لوبږی).

لاس مې تور، مخ مې په تور.

لاس چې ترسخر لاندې شی، په وروسې راکاږه. (۱)

لاس د بری کار دی.

لاس لاس پیژنې.

لاس مې تورې پیشو څټلی دی. (۲)

لال په ایرو کښې نه پتیږی.

لالپورد، په مېړو پورد.

لامبو په زیړه نه دد.

لانده کړی، دربښلی، وچ مې لانده نه کړی. (۳)

لټ د دوبی سیورې غواړی، د ژمی پیتاوی.

---

(۱)- سخر لوبې تری ته وایی.

(۲)- دا متل دا ډول هم ویل کیږی: « لاس مې تور سپی څټلې دی.

(۳)- ددې متل معنې دا دد، چې ضرر رارسېدلې هغه به وزغمې، نور راپښې نه کړی.

لټ يې دکور په‌وره کښې غواړ که‌نه‌وی، نو ببا ژاړی.
لټه ښځه، ولور نه لری.
لرگې تراشه، (توږه) سړي ځنې جوړوه.
لړشي بړې شي، په باغوان برابړې شي.
لړ له ستړگو، لړې له زړو.
لړ مې وادە کې، چې د ابا نه کنډولی شاکاسې وبولم.
لړ مه ځه چې لبوددې و نه خوری.
لړ مه ځه، نژدې وگورە.
لړم ته بې ویل کوچ، دە لکی پرشاوارولە.
لږ خورە، هوسا به اوسې.
لږ خورە، تل خورە، ډېر خورە زهر گنډېر خوزە.
لږ خورە، نوکرونېسه.
لږ خوراک، ډېر عبادت.
لږ خوراک، دځان کومک.
لږ خورە، ډېر گټه.
لږ ورکه، ډېر وگټه.
لږ ویل، ډېر کار.
لږ غږېږە، ډېر کوە.
لږ گنډه، تل گنډه.
لږ مې درکړە، نو خوندې درکړە.
لَغته د هغې غواړه، چې شیدې بې خوری.

لکه ابا ، هغسې يې قبا .
لکه ادې ، هغسې يې پايښې .
لکه اوښ لرې ګورد .
لکه پړ ، هغسې وراشه .
لکه پزه ، هغسې نته .
لکه تنده لښته پر هره خوايې کړوی .
لکه جولا ، خپلو پښتو ته ګوری .
لکه چرګ اذانونه ډېر کوي ، لمونځ يې هېڅا نه دي لیدلي .
لکه چرګ په ناوه زوړ شوی .
لکه ځان ، هغسې جهان .
لکه ځنګل ، هغسې چغال .
لکه د آسمان کټ ، چې د شپې پیدا شی ، د ورځې ورک شی .
لکه د تبې ډوډی ، نه مَخ لری ، نه شا .
لکه زړ ، هغسې يې سور .
لکه ژرنده ، هغسې يې دوړه .
لکه شېخ چلی ، په ښاخ ناست ښاخ وهي (ربیي) .
لکه غر هغسې ځناور .
لکه غر هغسې کربوړی .
لکه غوبي چې سر يې واخیست ، یا به دېوال ړنګوی یا به جغ ماتوی .
لکه کوتکی ، دمور دمخه زغلی .(۱)

(۱)-ګوتکي دحرې کوتې ته وايي .

لکه لنده کراسته، کشپږی پرې کپږی نه.

لکه لېونی خپل ځان ته خاندی.

لکه لېونی له کوره، په سارا خوښ دی.

لکه مخ، هغسې څپیږه.

لکه میندې، هغسې یې لونی.

لکه مړک په کورتو پسې مه زغله.

لکه ورغومې، هومره یې کومی.

لکه لور، هغسې ځور.

لکه بخت، هغسې یې تخت.

لکی ښه دی که پتی؟ ویل: پتی ښه دی.

لمر په دوو گوتو نه پټېږی.

لمر څېره وهی، خرکار پتیږه.

لنډ کلونه، اوږده یې پېغورونه.

لنډه لښته، هرې خواته کږېږی.

لنډی د مار سره غزېده، پر منځ دوه ځایه شوله.

لنډیې د اوږد سره برابراوه، د ښځه ووت.

لوټه په اوبو کښې ږدی، تېرېږی.

لوڅ له اوبو، نه بېرېږی.

لوڅ په خوب کرباس وینی.

لوڅې د کام ښه نه غوښته، سرې په درباب کښې وچ شو.

لور پر لوټه تیږه کوی.

لور چې ښه شي، د مور کوشی يې په پښه شي.

لور دموره ببلوی، تنګه بلا ده.(۱)

لور چې د مور دغېږې کاږی، نوم يې تنګه ده.

لور د لويه کورد غواړه، کوچنی ته يې ورکوه.

لور پرېږده، کور يې کنبېږده.

لور زېږول ښه دی، نه خوشې کنبېناستل.

لورې تاته‌وايم، مږوری غوږ پرې ونيسه.

لور وهه د ورور دپاره، ويل کوه د خدای دپاره.

لويه ګوله ښه‌ده، چې دنس پکنبې ښه ده.

لويه ګوله ثواب لری، چې د نس هم‌پکنبې خير دی.

لوی مې کړی، لويې را مه کړې.

لويې يو خدای لره ښايی.

لويې پر کور وايی کوچنی بې پر صحرا.

لوی د خدای په هيله، وړوکی د لوی په‌هيله.

له آخرت نه، ثوک راغلی دی.

له بازاره زد راغلم، له نرخه ته خبر يې!

له بازاره ووځه، له نرخه مه‌وځه.

له بدو ثخه يا غلي اوسه، يا لرې اوسه.

له بدو سره چې اوسې، که‌بد ته کړې بد به يې‌وسې.

له بله به‌خپل ته وژاړی، له‌خپله به چاته‌وژاړی.

---

(۱)- پر ولور ايراد نيول، غرض دی.

له بې باکو مې څه باک شی، چې پردی کور بې اتاک شی.
له بې کاری نه، بېګاری بنه دد.
له پلالې لاندې، اوبه مه تیروه.
له پلار نه بې، زوی غټ دی.
له پردې سړی، ګیله نشته.
له پردې زویه، خپله لور بنه دد.
له پلیتې بنځې، له تږدلې دبواله، له لېونی سپی څخه ځان ژغورد.
له تږوړه مې زړه کړم دی.
له تش ټوپکه دوه کسه ډارپږی.
له تناردیی، موری لوبه دد.
له جاهل سړ چې وایی، لکه مېخ چې په تږه بیایی.
له خزانې سړه ماروی.
له خولې دې وځه، په ګرېوان دې ننوځه.
له خیرد دې بیزارد، سپی دې در کوږې کړد.
له خیردمې دې توبه، سپی دې در ګرزوه.
له خوراک نه یې تمه بنه دد.
له خوند نه یې شخوند بنه دد.
له څاڅکونه سیند جوړیږي.
له سختی مرګ نشته.
له غم نه یې خلاصیږم نه، له بنادی څخه یې خبریږم نه.
له کلی وځه، له نرخه مه ووځه.

له کندو څخه‌بې، موری لویه‌دد.

له‌کورد په‌سارا خوښ دی له‌ویشه‌په تالا.

له‌کورد به‌درسره سم، نه‌تر گورد.

له‌کوم مبلمه نه‌چې خلاصیږي هغه ته‌ډبر ډبر خاندد.

له‌کورد یو لبونی نه چې ټول.

له کورد بو لبونی بس دی.

له کوندې سرد چې هر څومرد ښه‌کوې، دا پخوانی مړد بادوی.

له مارد مار بچي زیږي، له گوسنې لټکه.

له ما پاتې ؤ تاته، له تا پاتې ؤ ماته.

له ما پیدا شو، راته بلا شو.

له‌مرگه دې قربان شم، کباړی دې په ما جورد دد.

له مورد بې نمسی غټه‌دد.

له مورد که‌یو یم، له‌کامه خو یو نه یم.

له‌لبونی سپی څخه، هرڅوک وبریږی.

له‌ناکامه‌خلک هندو ته ماما وایی.

له نړبدلې دبواله وبرد په کار دد.

له‌نشته نینې هم ښې دی.

له‌نیا نه‌یې لمسی غټ دی.

له ورخه‌تیرې اوبه، بېرته نه‌راگرځی.

له‌وزکارې څخه، د کروتو چیچل ښه‌دی.

له وږی نه ډوډی غواړې.

له‌وښ نه يې په‌تالا خوښ‌دی.

له‌هغې بلا نه چې خلاصی نه‌وی، دوه کرته‌په‌مخه‌ورځه.

لیلی ته د مجنون په سترګه گورد!

للی‌د مخه، للی په پسې.

لښځی‌هلته خرڅود چې پرې کښښنې.

لښونی په ژمی کښنې فالوده غواړی.

لښونی په‌څه‌خبر دي.

لښونی ته مه‌څه‌ورکړه، مه‌څه ځنې غواړه.

لښونو سره چاکلی کور نه دی کړی.

لښود په وازه خوله وهنه کوي، مَلِک يې په پټه خوله.

لښود ته يې‌نصحیت وکړ، په هغه ورځ يې شل وداړل.

لښود ته يې نصیحت کاوه، ویل : غیلی لرې ولاړې.

(((*******)))

(م)

ما پر آسمان غوښتې، خدای پرځمکه راکړې.
ما پور غوښته، تانور غوښته.
ما ته بې که، چغکه بې مه بوله.
ما چې ته لالا بللی، ما ویل ته به تاتکی به گوته‌را وکاږې.
ما دېرش روژې، د اختر دپاره نیولې.
مار چې لنډی شی، دوسرد خولې اچوی.
مار چې غار له ورشی، نو سمبږې.
مار چې دې وخوری مار دی، شرمښکی د نانسور داغ دی.
مار د شښښوبي بدراتله، شښښوبي د غار په خوله کښې ورته شین دي.
مار که اوږد دی، سمسارد پرې سور ورد دد.
مار اوږی، مار خورلی.
مارچېچلی، له پرې وېرېږی.
ماردې لنډ کړ، مړ دې نه کړ.
مار خو نه بې، چې خاورې به خورې.
مارته کتی نه شم، وږی ته بې ورکوی نه شم.
ما کور، مرگی راخپور کړ.
ما که وژغونی په کار درلودای، دا دې کتوې ډکې وی.

مَلکي په مشرو کشر پوري اړه نه‌لري.
مالا جوړولې، لالا غزولې.
مال په دهقان سپارد، دهقان په‌خدای.
مال په مال پسې ځي.
مال‌چې خاوند ته نه‌وي، حرام‌دی.
مال یو ځای، ایمان سل ځایه.
مانانګه‌خواړه، بچي مې پلاو خواړه.
ماما ځان ګروي دخور بی تمه‌کیږی.
ماموته، بیا دې موته.
ماویل چې‌زمانشته، ددې خیالي خولا نشته.
ماهي‌ویل ما به خبرې‌کړې‌وای، مګر خوله‌مې د اوبو ډکه ده.
ماهي چې نه‌نیسې، نویې ترلکی نیسه.
ماولیږلې کلاته، ته لاړې مشغولا ته.
مچ نورځه نه‌کوی، خپله خوابدوی.
مچی په‌لوی لاس مه بوځوه.
مځکه هغه سوځی چې اور پرې بلیږی.
مځکه مور ده، زر زیږوی.
مخامخ روي ته‌څوک نه‌وایي چې‌روی.
مخ کښې ځه، خو بېرته هم ګوره.
مردار زړوکی اور نه اخلی.
مرګ‌او خوب، یو شي دی.

مرگ په ماړه نس ښه دی.

مرگ په ډول او سورنی نه‌راځی.

مرگ ته‌ځوان او زوړ یوشی دی.

مرگ حق دی، گور او کفن په‌شک کښې دی.

مرگ حق، میراث حلال.

مرگ د توپک ښه دی، نه دتلتک.

مرگ د مرض زوی دی.

مرگي د اوبو وار دی، نن پر ما سبا په‌تادی.

مرگي نژدې اندښښني لری.

مرغان هغه سره کښښنی، چې بنی سره ورته وی.

مرغی چې په بوتی ننوزی، ځای ورکوی.

مرور دوې برخې لری.

مړیی په مستو، مست وی.

مریي ته یې ویل مرییه، دده وژرل، ساووته یې ویل مرییه، دده وخندل.

مریي ته یې ویل چې رادې نیسم؛ ویل: ستا اختیار دی، ویل تښتې خو به نه! ویل: زما اختیار دی.

مریی غونډې یې گټه، ساوو غونډې یې څټه.

مړانه د میړو جوهر دی.

مړونه یې په‌خولو گټی، اسونه یې په‌سوو گټی.

مړونه مری، نومونه یې پاتیږی.

مړی به ډبر څه‌وایی، که یې څوک ومنی.

مړی په‌ژړا، نه ژوندی کیږی.

مړی‌ؤ، ویر یې نه‌ؤ.

مړ اور پو کوی.

مړي ابرې، مه‌شینده.

مړی څوک په‌لَغته نه‌وهی.

مړی ته‌شپه او ورځ یوه‌دد.

مړدناري وهي، چې مونږ مړه یو، یادسوویو، یادسړو ملګرو له مړانی موندلي دد.

مزدور چې له کال نه تیرشی، د کاله واکدار شی.

مزدور چې نور کارونه‌لری، ور به پوري کوی.

مزه یې ښه دد، را تله یې.

مزې تاوکړي گیډړي، همیشه دې شوندې غوړ دی.

مږکانو ګینګړي جوړ کړ، ویل یې دپشی په غاړه کښې به یې څوک اچوی.

مږک په غار نه‌شو ننوتلای، چې یې په‌لکی پورې غوټه کړ.

مږک چې کور په‌ژړنده کښې لری، څه غم‌لری.

مږکه خاوري کښینه، خاوري دې‌په کوته.

مسافر له خیرهٔ پوښته، له شپو یې مه پوښته.

مسافری، اوم سړي پخوی.

مستې د غلسینی، بانه بنګ دی.

مسجد د خوب‌ځای نه‌دی.

مسجد که ونړېږی، محراب يې پرځای وی.

مشر مشره برخه لری، کشر کشره.

مشر د مشر ځای لری، کشر د کشر.

مشر د کشر پل دی.

مغزی زمریان ماتوی، غوښې ګیدړان خوری.

ملا ځنګله ته نه ځی، مبلو هواري ته نه رائی.

ملا هم پاک، مسواک يې هم پاک.

ملا بانګ او چرګ بانګ فرق لری.

ملا لور نه خرڅوی، هسې يې سر لوړوی.

ملا ملا تلبر دی، يو ملګری مې بر دی.

ملا مې کړې، د خپل ځان بلا مې کړې.

من خورم، سپر ګنم، بې بې اوسم که درځم.

منډې به لالا وهی، مړی به عبدالله وهی.

منکر نر دی، قایل خر دی.

منګی هره ورځ نه ماتېږی.

منګی کله کله ماتېږی.

موچې د نورو څپلی ګنډی، مګر خپلې يې څېرې پېرې وی.

مور چې يې متکی وی، لور يې اشوکی وی.

مور و پلار چې زاړه شی، له شکرو لا خواږه شی.

مور و پلار بې پر قاضی، هلکان يې پر بازی.

مور نه دده مېرده، رانه کنبلې يې چاړه ده.

مـــوريې په کلي شلومـــبـــې غـــواړي، لوريې په نيم من کـــوچو سر، نه غوړوی.

موړې په بد راضی.

موريې پيدا نه وه، لوريې پر بام گرزبده.

مور نه مړه کيږي.

مور بې چې درخانی وی، لور به يې بناپيړی وی.

مور بزگر دې پر کور مبلمه مه شه.

مور شوم په زردکو، بيا به نه ځم زيړانوته.

مور د وړی د حاله څه خبر دی.

مور تول د يوه لاس گوتی يو.

موزی لايق دي د شړی، کز بره مه پرې اغوندی.

مه چاته څه ورکوه، مه د چا زړه بدوه.

مه خورد هغه کراړه، چې پرې نيسي دی تر غاړه.

مه خوشال وای، مه ختيک وای، مسلی وای خو ځواني وای.

مه داسې خوړ شه، چې څوک دې وخوری، مه داسې تريخ شه، چې څوک دې وغورځوی.

مه د چا دارا پاته کيږي، مه مې چاته پاتې کړی.

مه غوندی تشوه، مه وړی ژړوه.

مه کرل کړه مه ربيل کړه، توری څنی اړول کړه.

مه کړه هغه چار، چې نه دی مور کړی وی نه پلار.

مه کړه دروبشه، پر تا به درشی پس و پيښه.

مه‌وایه پر ما، چې دریه‌شی پرتا.

مه کوه په‌چا، چې وښی په‌تا.

میاشت د لومړی ورځې معلومیږی.

میا خبل که بنه‌ځوانان‌وای، خپلې میږی به یې میږی کړی‌وای.

میراث دې هغه ته پاته شه، چې هم یې خوری، هم پرې ژاړی.

میراث‌خور بنه‌دی، که اموخته‌خور.

میږه مې نه‌لیده، تر مور مینه.

میږو ته گورد، برخې وښه.

میږو له خندا موندلې ده.

میږونه‌که څه نه‌دی، له‌خدایه لرې نه‌دی.

میږه څه‌وهلی څه پورې وهلی.

میږه ته‌مه‌وایه چې میږه گیه.

میږه یا نیکنام، یا بدنام.

میږه مړ که، میږانه یې مه‌ورکوه.

میږه چا په خواری نه دی کړلې.

میږه مرداره، پور پر غاړه.

میږه که ډنگره شی، هم د وری ورته هیله ده.

میږه دی په لبوه وسپارله.

میږی ته چې خدای په‌قهر شی، نو وزرونه وکړی.

میږې ترځان لوی‌بار وړی.

میږی پرانگان‌ماتوی، غوښې گیډران خوری.

مېنبه په خوب کنبې تاپوگان وهنی.
مېلمه په ننگ بنه ایسی، کور به په ست.
مېلمه به دی شم، مگر نه په مې باروی، نه به مې بندی کوی.
مېلمه خپل نصیب خوری.
مېلمه شړلی بنه دی، نه په گډ، نهار.
مین یم، مگر ځان سیند ته نه اچوم.
مینځه چې توده شی، هلته بیده شی.

(ن)

نا بلده غل، کادانه وهی.
نا بلده غل، په بوساړه ننوځی.
ناپوه یې دومره په بل نه کوی، لکه په ځان.
ناپوه یې په سلو کلو گتمی، په یوه ورځ یې بابلی.
ناتارچې خپل څنبتن را و نه گرزوی، نور یې نه راگرزوی.
ناخبره د مرکې لبوه دی.
نادار پور وړی، چا نه دی وژلی.
نا راسته سړی، په وچه ځمکه بنوېږی.
نادیده تلتک نه درلود، چې پیدا یې کړ تر غرمې پکنبې پروت ؤ.
ناسته بنځه کار کوی، ولاړه بنځه څار کوی.
ناوې هی هی لری، خو په زړه کنبې گوری ماتوی.

ناوې تللې په خړی ورا يې پنډه په نغری.
ناوې په پسول ښه ايسي، پاچا په خول.
نجل به هلته نجل شی، چې په څنو په اور بل شی.
نر پسه د حلالولو دپاره دی.
نرخ ته گورد، گولې وهه.
نر زوی په ورنی کښې معلومېږی.
نر دې مرد، نر دې زبره.
نرمه غاړه ، تورد هم نه غوڅوی.
نشته داسې لوړی، چې وتښتی کمزوری.
نصیب کته کړي خر دی.
نصیب له ما هم گرندي دی.
نعمت پس له زواله معلومېږی.
نغړی له دښمنه ډک ښه دی، نه له دوسته خالی.
نغری دکهول، مشر دی.
نکریځې چې تر اختر تېرې شی، نو بيې پر دبواله وتپه.
نن دې خاطر، سبا دې د ملا تیر.
نن پر ما، سبا پر تا.
ننه واتې پر څه وی، که بې څه.
ننگ د کور په مېرو کېږی.
ننگ له مېرو لاړ، شرم له ارتینو.
ننگ له گوز ستانه پاڅېدلی دی.

ننگرهار نیم نهار.

نور جوړ، کار ته ناجوړ.

نور یو منزل کوی، سپی دوه منزله کوی.

نور یې تر مړیدو خوری، خښتو یې تر لیدو خوری.

نوک او اوری نه سره ببلیږی.

نوم بې لوړ، کور یې ډګر.

نوم بد، ګریوان څیرې.

نوم د نامه نه پرې کیږی.

نوم یې خان، کور یې وران.

نولس شل کیږی نه، او بیړا اخستې نه.

نه اوری، نه ګوری، سر پټ بدلې بولی.

نه به کانې پوست شی، نه به غلیم دوست شی.

نه به تل دا سره اوښان وی، نه به تل دا ناصر خان وی.

نه پوهیږم چې ور تنګ شو یا خرغټ شو.

نه تا څه رانه کښیښووه، نه ما څه پکښې پریښوده.

نه جغ کوم نه سپاره، خدای یې راکې پر تیاره.

نه چا لیدلی، نه باد وهلی.

نه خان دی نه مان دی، زما د اوړو زیان دی.

نه خړوهلی، نه لښته ماته.

نه خرمړ کیږده، نه سپی ځنې ته.

نه خورلی نه چښلی، پښتورګی درد نه ښولی.

نه‌د بې مالګې خورو مزه شته، نه د پردی زویه ګیله‌شته.
نه د چا کور، نه د چا کلی.
نه د ښه‌حاله‌الواته، نه د بدحاله مرګ.
نه د تېنګې د وېشتو دی، نه‌د سستی دنیوو.
نه دلې شوم، نه هورې، تر منځ شوم‌خاورې ایرې.
نه‌د مړو د ژړا دی، نه د ژوندو د دلاسا.
نه دې پاتې خورم، نه دې‌سرې چلوم.
نه‌دې غیلې پیایم، نه دی ګاړې‌څتم.
نه‌دې وی هغه غوړی، چې وېې‌نه‌خوری سړی.
نه‌دې کورت خورم نه‌غوړی، نه‌دې سوک خورم نه‌سوتې.
نه‌زما پلار ستا تربور دی، نه زما پلار ستا مزدور دی.
نه سېخ سوی، نه کباب.
نه شرم نه حیا، لعنت پر بې‌حیا.
نه.... کوې، نه دلار وزی.
نه‌کرم، نه ربېم، تورې څټې اړوم.
نه‌کم نه‌کمتر، سلامت دغوایې‌سر.
نه‌کور ورک، نه‌دود ورک.
نه ګنډم چوتی، بېزاره یم‌د ګنې.
نه له‌پیره حیا لری، نه له میره.
نه ملا شوې نه امی‌شوې، د پلار مینه دی ورکه‌کړه، چرسی‌شوې.
نه‌مې وخوړه نه‌پرې مړ شوم، سلا بلا په تور شوم.

نه بيې تر خولې شوه، نه بيې تر نَسه.
نه‌يې خورې، نه يې خورندی ته ورکوې.
نيت سم نيسه، اول يې پر دښمن نيسه.
نيت‌مې وتاړه په‌پری، مانو، گيت وهل په کلی.
نيستی د ميړو قدر کموی.
نيک‌بخت يې په بل وينې، کم‌بخت‌يې په ځان.
نيک عـــمل به دې سلطان کـــړی، بد عـــمل به دې په‌ځـــان‌پورې حيران کړی.
نيک‌عمل به دې پاچا کړی، بد عمل به دې رسوا کړی.
نيکی له دښمن‌سره کوه، چې تور ليمه يې ووځی.
نيمه ډوډی، د کوتې پای.

(و)

واده اسانه‌دی، تک توک‌يې گران‌دی.
واده په‌سازښه‌ښکاری، مړی په‌وير.
واده ته‌مه‌وايه، واده گيه.
واده د نه ستنې، کرياب‌دی.
واده د اللّه‌داد، پکښې غورځی مولا داد.
واده دې د پردی، پکښې غورځی لېونی.
واړه تشې شلومبې‌شاربی، خبر نه‌شود له‌مطلبه.
وانښکی پر نری ځای شليږی.

وابنه دسمې خورې، هوا دغرد لرې.
واک ستا دی اکا خبلې، اوس که غوا بیایې که غبلی.
وياسه پښې، وخورد پتاسې.
و به دې پوښتم، واکدار به دې نه کړم.
وتلی ښه دی، که ترپلی.
وجنګ ته یوه لوښت دمخه ګډل، د سلو کلو لارده.
وچ اوړه پر دېوال نه ښنبلی.
وخت چې د بری شی، هر ګیدړ زمری شی.
وخت چې د ختمې شی، د یتیم پز وینی شی.
وخت سره زر دی.
وخوره ګل بخور، چې دې وشی میراث خور.
ورانول اسان دی، خو جوړول ډېر ګران دی.
ووځ یې چې برابره شی، چراغ یې په اوبو کښې بلیږی.
ورغستلی ، له منځه وتلی دی.
ورکړه په لاس، ګرزه په پښو.
ورکه کې نیستی، سړی باسی له سیالی.
ورور چې هر څومره بد شی، د میرې له زویه ښه دی.
ورور چې ننګیالی شی، دخور پر سر تېکری شی.
ورور چې سپور شی، دخپل کور شی.
ورور دې وی، پر لاهور دې وی.
ورور دې وی، دمیرې دې وی.

ورونو جنګ وکړ، سادګانو باور.

وروستیه عقله، چې ږومبی وای.

ورورۍ خوری به کوو، حساب ترمنځه.

ورور یې مه وهه په تورد، خور یې ناسته ده حضوره.

ورور یې کسه، خور یې نسه.

ورور یې گورد، خور یې غواړه.

ورور یې ورور ته نه ګتي، شریک ته ګتی.

وربښم که زاړه شی، د خره کسته لا نه شی.

وربندارې خواره به دې غواړم، نه د ورور د مرګه.

وړی نه ول لری نه ولې، چې مبرمن نه وي ناولې.

وړوکی دښمن، د اور بخرکی دی.

وړ دښمن، لوی وګنه.

وړه چې په مبنده شی، هغه لا لویه فتنه شی.

وزه ننوزه، د جنګی لالا واده دی.

وزه ننوزه، وړسک خوره لښمه دې وزه.

وزه د شپون دپاره نه ده، شپون د وزې دپاره دی.

وزې وزې پی خو به راکې، خو له پچو ډکې.

وژارد چې وخاندې.

وړی په خوب، دسترخان وینی.

وړي پیشو، د زمری سره جنګیږی.

وړي ته پاخه تپیر بنه دی، نه سپین زر.

وړی ته چا ویل: څلور څلور څو کیږي؟ ویل یی: اته ډوډی.

وړي ته د پانګ پوست سنګکی ډوډی ښکاری.

وړ ستر ګي خدای نه مړوی.

وړی د ډوډی ټپهار اوری.

وړی د ملغلرو همیانی پیدا کړه، د نینو ګومان یې پرې وکړ.

وړی ستر ګي، نه مړیږی.

وړی نس، بلا ده.

وړی لره نیمه ګوله هم غنیمه دی.

وړی نه یم، قدر غواړم.

وسله هغه ده، چې په لاس درغله.

وسله که سل کاله بار ده، په سخته ورځ په کار دد.

وطن په دوو ستر ګو خپل دی، په دوو پردی.

و عاقل ته اشاره دی، کم عقل ته کوتک.

وګټه، پیل وخورد.

وګوره سړی، تر پ لاندې واچوه کالی.

ولاړې اوبه، ژر ژړیږی.

ومې بله، ومې تله.

و مه خورې هغه غوړی، چې وباسي مرغړی.

ونه چې زړه شی، د هرې بلا پرې شپه شی.

وهم دې چیرې، ډب دې چیرې خټړی.

ویښلی وړور، تریور دی.

ویل دي ښه، کول دي بد.
ویل شته دی، عمل نشته.
ویل، لکي ښه دی، که پتی؟ ویل پتی.
ویلني مې د وبالې ترغاړې بد ایسی، په کور کښې را ته شین شو.
ویی واهه په سر، وبې چاودې تلې.

(هـ)

هډ په پیوند، جلا کیږی.
هډو عمر یې مه حسابوه، حال ته یې گوره.
هر چا ته خپل وطن کشمیر دی.
هر چا ته خپل مزی مرغلین ښکاری.
هر چا ته خپل زوی شهزاده دی.
هر چیرې چې ښه، هلته دې شپه.
هر چیرې اور بل، کتوې باندې.
هر چیرې چې خورې، هلته به مرې.
هر څوک له ځانه خوښ، په نیرد ببا ښکښ.
هر څوک پوهیږي، چې غوا توره، شیدې یې سپینې.
هر څوک چې وزګار شی، یا غل شی یا بیمار شی.
هر څوچې هوښیار یې، نادان لا پوښته.
هر څه چې درته وایم، ته خپله عرکه شاربی.
هر څه مې د بل خوښ دی، عقل مې خپل خوښ دی.

هر سړی خپل غم ژاړی، نه چې د بل غم.

هر سړی تر خپلې مدعا پورې یار دی.

هر سور ږیرې، ملا شاه ګُل نه وی.

هر شی چې غبرګ شی، لنډیږي، خبره چې غبرګه شي اوږدیږی.

هر نوی قدر لری، بې له مرګه.

هر مرغه، خپله یې ځاله خبر نه دی یو د بل له حاله.

هر مرغه چې دانه اخلی، څنګونه یې زبر دی.

هر یو پر خپله تېکی لور اړوی.

هستی کوی مستی، نیستی کوی سستی.

هسې مه کوه انسانه، چې زوی ګران کې، لور ارزانه.

هغه بنده به څه کړی، چې خدای یې زبرمه نه کړی.

هغه آش، هغه کاسه.

هغه چرګه مړه شود، چې برګې هګی به یې اچولې.

هغه چې الوځی، تولې چوغکی دی.

هغه خور دی ارمان نه کړی، په دورونو یې واده کړی.

هغه درک، هغه خرک.

هغه سړی نه دی، چې له ځانه خبر نه دی.

هغه سپی دې خوری، چې پېژنې دې.

هغه شپې لاړې، چې ما او تا به کړې کړواړی.

هغه چې نن غران کړی، نه یې خپل، نه یې خپلوان کړی.

هغه چې کار په عقل کیږی، زور ورته عاجز دی.

هغه ورځې لاړې، چې دی لَو کاوه په ولاړې.
هلته به دې زده شی، چې د خوار په‌حال دې شپه شي.
هلته به‌دې زده شي، چې په ادرګ بدرګ دی شپه شی.
هلته ځه، چې قدر دې کیږی.

هله به ځاربږم، چې له کاره وزګاربږم.
هله به خبر شي، چې تا روجبی له‌ورشی.
هم اوړه پینی، هم اور پو کي.
هم بوره، هم بدنامه.
هم ودیږي، هم رقصیږي.
هم درځخه مرم، هم درپسې مرم.
هم د سین دا غاړه پیایی، هم هغه غاړه.
هم یې پر مېخ وهی، هم یې پر نال.
هم یې سکنی، هم یې رغوی.
هم یې کړې، هم یې ربیې.
هندو پښې ګتې، پښتون قیصې ګتی.
هندو څه وهلی، څه‌سر تور کړی.
... هندو بې ګوړې نه‌وی.
هندو زوړ شو، مسلمان نه‌شو.
هندو ګوړې په خوب‌وینې.
هندو ستړی، ... ی ناراضه.
هندو مې پک نه دی لیدلی.

هوده د شرمښکې نه لرې، لاس ښامد ته اچوې.
هوډه مې خوړلې ده، په ځان مې ازمويلې ده.
هوسې پخوا هم د غرو وه، مګر چې ګينګړې يې تر غاړه شول د غرو څوکو ته وختې.
هوسې هسې هم ترنده وه، چې ګينګړې ورته واچاوه، لا ترنده شوه.
هوسې هوا دغرووهي، وابنه د سيمې خوري.
هوښيارانِ، زهر د تریاکو په ګومان خوري.
هوښيار ته اشاره ده، ناپوه ته ډنډه.
هوښيار نه غوزاربږي، چې غوزار شي، غبرګ غاښونه يې وځي.
هوښيار مرغه په دوو لومو بندیږي.
هوښيار مرغې په دوو لومو کښې نښلي.
همسايه غل مه بوله، خپل کور دې ساته.
هم ږوري ژاړي، هم وراري.
هېڅوک نه وايي چې زما د غړکې خوند بد دی.

(((((******)))))

ketabton.com - The Digital Library

(ی)

* یا انا وهي، یا عږکې څېړی.
یا برچمر کنډی دی، یا کافر د لیکنډی دی.
یا به تخت، یا به تخته شي.
یا به تخت وي، یا تابوت.
یا به کولاله ونیسی، یا به مالداره ونیسی.
یا به بې کولاله کړی، یا به یې مالداره کړي.
یا به هی په ساروان وی، یا په کاروان.
یاد به دې زه کړم، مور به دې خدای کا.
یا د چا ودې پښې ژړاوي یا د کونډې ښځې.
یا د چلم سر، یا د پلاو ښیخ.
یا د خدای قدرت دی، یا د میړو غیرت دی.
یا د مور تي دی، یا د چلم نی.
یاد مې ته که، مور به مې خدای.
یارانه، ډوبه جاله.
یار تر کوڅې تېر که، رنګ یې هېر که.
یار ترما پورې رنګ ژېړی ښه دی، نه زه تر یاره.
یار چې ځایې شی، رنګ دې ورک شی.

یار مبلې لره دی، دوست تنګې لره دی.
یار د یار دپاره خوری د غوایی غوښې.
یاری چې په شوتالو شوه، نو و نه شوه.
یا لویو کورو ته ورځه، با لویو غرو ته.
یا مړ، یا مور، یا جګ پر غوایی سپور.
یا مې ابا بوله، یا کنوه ماتوم.
یا نه کوي، یا د خره کوي.
یا نه ځم، یا منډې وهم.
یا نیک پلو، یا نیک جلو.
یا وړ پوښته، یا زوړ.
یا وښه ژاړی، یا مینه.
یا یار شه، یا بیزار شه.
یتیم ته بو نس مستې هم پسرلی دی.
یتیم په ژړا عادت دی.
یخ دې تنه کار دی، زوړ میړه پکار دی، ځوان میړه ناتار دی.
یَرحَمکَ اللّٰه، هم ځای لری.
یږه سمې ته نه راتله او ملا غره ته نه ته.
یو انار او سل بیمار.
یو بهلول یو یې کند، یو یې کچکول.
یوه بلا بلی ته وایی چې بَو.
یو به مړ نه شی، بل به مور نه شی.

یو پتې شپشتې یې وخوړې، وایی دا لا مړه ده.
یو په اوښکو ژاړی، بل په وینو ورسره ژاړي.
یو په ست ښه ایسي، بل په پت.
یو په سله، سل په هیڅ.
یو تنها به دې سفروی، یا به غم یا به اختروی.
یو تک دې دارو نشته، پرځان دې غومباره نوم ایښې دی.
یو څه زه لنډ یم، یو څه مې د بنی ګودی اوږد دی.
یو ځان شرموي، بل قام.
یو د لوړې مړ کښده، بل یې سر ته پراتې کتلی.
یو دبګی، ټول کندی.
یو زوی، نه زوی.
یو سر، نه سر.
یو ښار او دوه نرخه.
یو کار وکړه، چې سل وارزی.
یو لاس دې خدای هغه بل ته نه اړوی.
یو لاس په چاړه، بل خواړه.
یو لمونځ په هفته کښې، هغه هم په ما مته کښې.
یو موټې دې اوړه نشته، سل دې تنرونه دی.
یو نَس، دوه منته.
یو نوکی غیرت، ترسلو مبړو ښه وی.
یو واړی شل کړه، بیا یې په جوال کښې واچوه.

یو وار چې زوړشي، بیا خدای خبر چې جوړشي.

یو وایی مریې دې یم، بل دې فکر وکړی چې په څومې اخستې دې.

یووایی مربی دې یم، بل یې نو په بازار نه خرڅوی.

یو وار مرګی وای، خو بیا لیده وای.

یوه پر تناره خوری، یوه پر زنګانه خوری یوه چې کښېنې بیا هله خوری، دا خواره نو څه خوری؟

یوه چاړه چې دوې کې، دا چاره به په پرې کی.

یوه کور خرڅاوه، بل په پور غوښته.

یوه ډډه اور نه کا، دوه بنی کور.

یوه ربنتیا ربنتیا وپل، په سمه کښې یې ځای نه ؤ.

یوه ژرنده څټله، بل یې لکی څټله.

یوه سترګه پر دین، یوه پر دُنیا.

یوه شپه د مړ د مېړه سره هم تېریږی.

یوه غونډی که هواره شی، ډبر خندکونه به ډک شي.

یوه کوه، یوه اوره.

یوه لوښت ناوکی، دوې لوښتې بې کوڅی.

یوه مېړو ښه تر سلو کونډو ښه ده.

یو، منه‌واچوه، تر بلې بیا خدای.

یوه کډه د بلې زړه کاږی.

یو بې خوری، بل ورته مری.

یو یې واهه، بل پرې په نازبده.

يو يې ګټې، سل يې څټې.

يو يې ژنده ماتوی، بل يې پارچاو اړوی.

PROPERTY OF ACKU 113906

يويې بر وهی، بل يې ريښې.

يو يې سر وهی، بل يې پلې.

يو يې بزی پيايي، بل يې ګاړې څټی.

يوې بلا بلې بلا ته ويل: اوخ.

يوې د غمه ژړل، بلې له خوشالی ورپورې خندل.

يوې پښې و بلې ته، ويل نه ځم.

يوې ناوې اينګې کاوه، بنه يې زګيړوی کاوه.

يه بايد يه وي، هو بايد هو!

بنې مې خوړې، سړې وينې تړې تلې

****
****
****
*****
***
*

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English